په بنيادي عقيدو او اختلافي مسآئلو باندې

محققانه کتاب

# مقالات

**تصنيف :**

مُحدِّث کبير ، فقيه العصر ، عارف بالله حضرت مولانا **مُفتي مُحمَّد فريد مُجدَّدي** صاحب (دامت برکاتهم العالية) شيخ الحديث دار العلوم جامعة حقَّانية (اکوړه خټك)

Ketabton.com

**ترتيب :**

مولوي حافظ محمَّد احمد حقَّاني تلميذ المؤلِف

**ناشر:**

**سعيدي کتب خانه** ، ختمِ نبوّت چورنګۍ، سټلايټ ټاؤن، کوئټه . پاکستان. فون: ۰۳۰۱۳۷۹۲۰۰۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



فهرست



| شماره | مضمون | مخ |
|---|---|---|
| ۱. | دکتاب دمؤلف وژوند ته لنډه کتنه | ۱ |
| ۲. | دحضرت مؤلِف تصنیفات اوتالیفونه | ۳ |
| ۳. | اوله مقاله ده په وجود دالله ﷻ کی | ۴ |
| ۴. | دوهمه مقاله ده په توحید دالله ﷻ کی | ۷ |
| ۵. | دمخلوقاتو علم کلی نه دی | ۸ |
| ۶. | حدیث د فتجلی لی کل شیء وعرفتُ | ۱۱ |
| ۷. | غیر الله ته غآئبانه آوازونه کول | ۱۲ |
| ۸. | نذر اوذبح په نامه دغیر الله کول | ۱۴ |
| ۹. | دننواتی پسه | ۱۵ |
| ۱۰. | دریمه مقاله ده په مسئله ددعا کی | ۱۶ |
| ۱۱. | په هیئت اجتماعیه سره ذکر کول | ۱۸ |
| ۱۲. | تشریح دلفظ د (دُبُر) | ۱۹ |
| ۱۳. | مبحث دالتزام دما لا یلزم | ۲۵ |
| ۱۴. | څلورمه مقاله ده په دعاکۍوروسته ترجنازی | ۲۸ |
| ۱۵. | پنځمه مقاله ده په حیله داسقاط کی | ۳۲ |
| ۱۶. | دحیلې بحث | ۳۳ |
| ۱۷. | شپږمه مقاله ده په توسل کی | ۳۵ |
| ۱۸. | ذکر دآثارو دسلفو صالحینو په حق دتوسل کی | ۴۱ |
| ۱۹. | کلام دائمه اربعه وو په حق دتوسل کی | ۴۲ |
| ۲۰. | کلام دمشآئخو په حق دتوسل کی | ۴۳ |

فهرست


| شماره | مـــضــــمـــون | مخ |
|---|---|---|
| ۲۱. | دتوسل څخه دانکار کوونکو دلآئل | ۴۷ |
| ۲۲. | دمنکرینو ددلآئلو جوابونه | ۴۸ |
| ۲۳. | مسئله داقسام | ۵۱ |
| ۲۴. | اوومه مقاله ، مسئله دسماع الموتٰی | ۵۲ |
| ۲۵. | اتمه مقاله ، مسئله دأجرت اخیستو پر ختم د قرآنِ مجید باندی | ۶۰ |
| ۲۶. | نهمه مقاله ، داهلِ میت دطرفه داطعام مسئله | ۶۴ |
| ۲۷. | لسمه مقاله ، دبخاری شریف دآخری باب تشریح او توضیح | ۶۶ |
| ۲۸. | لس نصآئح | ۷۸ |
| ۲۹. | تتمّه ، مسئله دتقلید | ۸۲ |



**العلم کمپیوټرز ،** کوئټه . پاکستان

☎ : ۰۳۲۱۸۰۱۲۳۷۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

**دکتاب دمصنف صاحب وژوند ته لنډه کتنه:**

الحمد لله رب العالمين، والصلاة والسلام علي امام انبيآء الله رحمة للعالمين.
وعلي آله الطيبين واصحابه الطاهرين وعلينا معهم اجمعين.

ددې کتاب مصنف صاحب طا ل الله حياته استاذنا مولانا الشيخ الفقيه المحدث العارف بالله **المفتی محمّد فريد** بن الشيخ العلامة مولانا حبيب الله بن مولانا امان الله بن مولانا ملاّمير (رحمة الله عليهم) دی. حضرت مؤلِف ؒ په کال **۱۳۴۴** هجری قمری کې دکوچنی اخترپه مبارکه ورځ چې دجُمعې مبارکې ورځ هم وه د (زروبی) په سيمه کی چې دپاکستان په لويديځی شمالي علاقې (مردان) پوری مربوطه ده زيږيدلی دی. ده په خپله علمی او ادبی کورنۍ کی پرخپل پلار محترم مولانا حبيب الله صاحب ؒ (المتوفی **۱۳۲۸**ھ) باندی چې دخپل عصر ستردينی عالِم وو په زده کړه اولوست پيل وکړ، دده والد ؒ ډيره زمانه ددينی علومو اوکتابو په درس اوتدريس ددين خدمت وکی چې په همدې زمانه کی حضرت مؤلِف ؒ اکثره کتابونه دخپل پلار څخه وويل. تردې وروسته يې دمشهور علامه مولانا مار تونګ صاحب ؒ (المتوفی **۱۳۹۲** ھ) او علامه محقِّق مولانا محمّد نذير الچکيسری ؒ صاحب (المتوفی **۱۳۹۱**ھ) اوبيا

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمشهور شیخ مولانا شاه منصور بابا (المتوفی ۱۳۹۷هـ) (رحمة الله علیهم) څخه درسونه وویل.
داحادیثو مبارکو ددورې اونورو کتابوپه نیت دغورغشت وعلاقې ته وخوځیدی ترڅوچې هلته دمشهور عالِم المحدث الکبیرعارف بالله مولانانصیرالدین الغورغشتوی قدس سرّه (المتوفی ۱۳۸۸هـ) څخه فیضیابه سی. حضرت مؤلِف په کال ۱۳۷۱ هـ کی دزده کړې څخه فارغ سو او دفضیلت دستار یې دخپلو مبارکو استاذانوپه لاسو پرسر وتړی. ترفاغه کیدو وروسته یې لومړی په خپله علاقه او بیاپه ډیرو مختلفو علاقو اومدرسوکی شاګردان اوطالبان دخپلې علمی چینې څخه سیرابه کړل، دډیرو لیرو لیرو ځایو څخه به ده ته دمسئلو دپوښتنی او دکتابو دویلو دپاره خواص اوعام راتلل ترڅوچی په درس او افتآء کی ډیر مشهوره سو، بیایې په کال ۱۳۸۵ هـ مطابق ۱۹۶۶ع کی مادرِ علمی **دار العلوم جامعه حقانیه** (زادها الله بالعلم والکرم) ته تشریف یووړی، اوهلته ددرس او افتآء منصب ورته وسپارل سو، چی داحادیثو ډیر درسونه اوپه زرهاوو فتواوی یې ورکړلی، په کال ۱۳۹۲ هـ دحرمینو په زیارت مشرفه سو.
حضرت مؤلِف داخدمت ته ترهغه پوری وکی چی ترڅو یې دبدن قواوی ټولی ضعیفې سوې اودبستر بندې سو، الله ﷻ دې صحت اوعافیت اواوږد عُمر ورلره ورکی. آمین

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دحضرت مؤلِّف تصنيفات او تاليفونه:**

حضرتِ مؤلِفؒ ددرس اوافتآء سره ډير تصنيفونه هم وکړه، چې اکثره يې دتصينف دوخت څخه ترننه پورې په وار وار چاپ سوي دي اوډير قآرئين لري. دهغو څخه بعضې يې په لاندې ډول دي:

۱. هداية القاري الىٰ صحيح البخاري (عربی \ مطبوع).
۲. فتحُ المنُعم بشرح مقدّمة صحيح مُسلم (عربی \ مطبوع).
۳. منهاج السنن شرح جامع السنن للامام الترمذی (۵ جلد\ عربی).
۴. الفتاوی الفريديّة ( ۴ جلد مطبوع \ عربی \ أردو).
۵. مقالات (همدا کتاب چې ستاسې په لاس کې دی).
۶. العقآئد الاسلامية ( پښتو \ طبع سعيدي کتب خانه).
۷. رساله قبريه ( پښتو \ طبع سعيدي کتب خانه).

دياودنې وړده چې دمفتي صاحب فتاوٰی تراوسه ۴ جلده نشر سويده چې پرنورو جلدو باندې يې هم کار شروع دی اووخت په وخت به چاپيږي، چونکه دا فتاوٰی په أردو ژبه کې ده، ځکه موږ اراده وکړه چې دخپلو پښتنوورونو دپاره يې پښتو ژبې ته وژباړو.

**مرتِّب:**

مولوی حافظ محمَّد احمد حقَّاني تلميذ المؤلِّف (عافاه الله تعالی وغفر له)

**ناشر:**

سعيدي کتب خانه، ختمِ نبوّت چورنګی ستلايټ ټاؤن، کوئټه.
فون: ۰۳۰۰۳۸۴۳۷۸۷ ---------------------- ۰۳۰۱۳۷۹۲۰۰۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرّحمٰن الرّحيم ط

اَلْحَمْدُ لله رَبّ الْعٰلَمِيْنَ. والصلاة والسلام على سيدنا خير خلقه محمد وأله واصحابه اجمعين.

**امابعد**: پس وايي (مفتي) محمدفريد مجددي اوسيدونكى دتحصيل زروبى ضلع صوابى: چى دايوه رساله ده چى نامداره ده په مقالات سره. په دې كى په پښتو ژبه لس مقالې ذكر كيږي. وَلاَ حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ اِلاَّ بِاللهِ الْعَلِيّ الْعَظِيْمِ.

## ❶ اوله مقاله :

په اوله مقاله كي مسئله دوجود اودسته والى دالله ﷻ ذكر كيږي. الله (ﷻ) نوم دهغه ذات دى چى په خپله موجود دى اوپه هر كمال سره موصوف دى اودهره عيبه څخه پاك دى، ددې ذات پرسته والى ډير دلآئل قآئم سوى دى:

**اول دليل**: تول انبيآء عليهم السلام اوتول حكمآء اوپه هردور كي دهرقوم اكثريت ددې ذات په سته والى باندى باور او يقين كوونكى دى. دې دليل ته اجماع ويل كيږي.

**دوهم دليل**: په دې جهان كي يومكمّل نظام موجود دى، ددې جهان دهر شى خپله خپله وظيفه وى او هره پُرزه يې پوره كوى. اوتر فكر كولو وروسته دامعلوميږي چى ددې جهان دا نظام قابل دزوال دى، مثلاً چى دسپوږمى څخه يو سير (كيلو) ماده راوړل ممكن دى نوپه ډيرو وارو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



دټـولی سـپوږمۍ راوړل او دسـپوږمیز نظـام ختمیـدل هـم ممکن سوه. اوچی دمځکی ځخه یـو سـیر مـاده وړل ممکـن دی نوپـه متعـدّدو مراتـوکي دټـولي مځکـي وړل اود نظـامِ ارضـي زوال هـم ممکـن سـو. اوچـی دیـوه سـیر اوبـو ځخـه بخـارات جوړیـدل ممکـن دي نودټولـو اوبـو ځخـه بخـارات جوړیـدل اوداوبـو ختمیـدل هـم ممکـن سـوه، اوچـی دیـوه انسـان مړ کیدل ممکن دی نودټولی نـوع دانسـان مـړه کیـدل اودانسـان دنـوع ختمیـدل هـم ممکـن سـوه. اوپـه دې طريقې سـره دنظـامِ شـمسـی او دسـتورو دنظـام ختميـدل هـم ممکـن سوه. اودا قاعده چی کم شی پـه زمانـه حـال اومسـتقبل کـی قابل دزوال وی او قابليت ددوام نلری نوپـه جانـب دماضـی کـی بـه هـم ددوام او دازليّـت قابليـت نلـری، کـه پـه ده کـی ددوام قابليت وای نوپـه مستقبل کي به ځرنګه قابـل دزوال وای نومعلومــه ســوه چــی داجهــان پيــدا کــړل ســوی دی اوحادث دي، ازلي اوابدی نه دي.

نوکله چي داثابتـه سوه چی داجهـان حـادث دی، پيداسـوی دی نوسوال داپيدا سو چی پيـدا کـوونکی يې څوك دی ؟ آيـا پيـداکوونکی يې ۱. يـوجُزء دی اوکـه ۲. داټولـه اجـزآء دی، اوکـه پيـدا کـوونکي ددې جهـان ۳. داجهـان پـه خپلـه دي، اوکـه پيـدا کـوونکی ددې جهـان ۴. دجهـان ځخـه يـو خارج ذات دی.

۱. دانا ممکنه ده چی پيداکوونکی ددې جهان يوجُزء ددې

(c) ketabton.com: The Digital Library



جهان سی ځکه چې داجهان معدوم وو نودا جزء هم معدوم وو اومعدوم پیداکول نسی کولای. ۲. اوداهم ناممکنه ده چې پیداکوونکی ددې جهان دی داټول اجزآء سی ځکه چې داجهان معدوم وو، نودا اجزآء هم معدوم وه، اومعدوم پیدا کول نسي کولای، ۳. اوداهم ناممکنه ده چې پیدا کوونکی ددې جهان داجهان یعنی دامربوط اومنظم اجزآء په خپله سی ځکه چې معدوم پیدا کول نسی کولای.

۴. نودا لازمه سوه چې ددې جهان پیدا کوونکی یوداسی ذات دی چې ددې جهان څخه خارج دی لکه دمِیل، ساعت اونورو شیانو جوړوونکی چې خارجي ذات دی.

اوپه لازمی طورسره به داخارجی ذات هرقسم کامل وی، حیات، علم، قدرت اراده به لری. مړ، بې علمه، بې شعوره، عاجزه اومجبور پیدا کول نسي کولای، اودا ذات به کوڼ، ړوند اوګونګی نه وی، داسي ذات خو ناقص ذات وی، او محتاجه وی، دی قابل دپیداکولو نه وی خلاصه داده چې که داخارجی کامل ذات موجودنه وای نوداسلسله دوجود به نه وای شروع سوی.

**دریم دلیل**: داوبو طبیعت اوخاصیّت دی چې خپله سطحه همواره ساتي اواختلاط اوګډون غواړی نوبناٴ پردې قاعده باندی داضروری وه چې دسمندرونو داوبو یورنګ اویوخوند وای لیکن دوی مختلف دی اوددې طبیعت څخه مانع بل شی نسته ماسوا دیوه خارجي طاقت څخه چې الله

(c) ketabton.com: The Digital Library



ﷻ دی.

**څلورم دلیل**: چی انسان پـه یـوه مـشکل کـی ومـبتلی او دظاهری اسبابو څخه مایوسه سي نوالله ﷻ ته زاري شروع کـي اومـشکل یـې حـل سـي نومعلومـه سـوه چـی یـوذات مشکل کشا سته، چی هغه الله ﷻ دی.

**پـنځم دلیـل**: انبیـآء علیهم السلام خپلـو خپلـو قومونوتـه چلیـنج ورکـی چی پرتاسی بانـدی بـه پـه فلانـی وخت کـی عـذاب راځـی اوموافـق ددې وعـدې پـر دوی بانـدی عـذاب راغـی نومعلومـه سـوه چـی دانبیـآء علیهم السلام ترشـا یـوعظیم ذات دی چی داعذاب یې راوستلی چی هغه الله ﷻ دی.

**شپږم دلیل**: الله ﷻ چی کم قوانین نازل کړی دی نوهغه په هر دورکـی دامـن اودخوشـحالي کفیـل (ضـامن) دی، اوداسـی قوانین هغه ذات جوړولی سي چی پـه هرشـی اودهرشـي پـه منـافعو اوپـه مـضراتو اودهرشـي پـه اسـرارو او حکمتـونـو باندی خبروی.

## ❷ دوهمه مقاله

په دې مقاله کی مسئله دتوحید ذکر کیږی.

دټولـو مـسلمانانو داعقیـده ده چـی الله ﷻ یـودی، یعنـی ده لره شریك نسته، نـه پـه ذات کي اونـه پـه صـفاتوکي، نـه پـه افعالوکي اودیو والي دامعني نه ده چی الله ﷻ یـودی، دوه نه دی ځکه چی په دې معنی سره هرشخص اوهر جزء یودی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دالله ﷻ دذات پـه شـان دوهـم ذات نـسته، الله ﷻ دهميـشه دپـاره ژونـدی دی اودا ژونـد دده ذاتـی دی. ماسـوا دالله ﷻ څخه دنورو شيانو حيات نه ذاتي دي اونـه دآئمي دي. دالله ﷻ علم ذاتي دي اودآئمي دي اومحيط دی. ماسوا دالله ﷻ دمخلوقـاتو علـم ۱. نـه ذاتـي دی، الله ﷻ فرمـايي: ومـابکم من نعمةٍ فمن الله (سورة النحل) يعنـی هرنعمـت کـه علـم دی اوکه ماسوا دعلم دی عطآئی دی. الله ﷻ فرمايي: الله خـالق کـلّ شـیءٍ (سـورةِ زمـر) يعنـی هرشـی کـه دممکنـاتو علـم دی اوکه ماسوا دعلمـه دی، مخلـوق دی اودنيـست څخـه هـست سوی دی.

۲.اونه دمخلوقاتو علم دآئمی دی، دوی ترپيدايـښت دمخـه اوپـه اول دور دپيدايـښت کـی علـم نلـری. اوپرهـر انـسان باندی نسيان راځی، اوچی کم انسان ارذل عمر تـه ورسـيږی نوعلم يې په زوال شروع سي.

۳.اونـه دمخلوقـاتو علـم کلـي دی، الله ﷻ فرمـايي: وعنـده مفاتيح الغيب لايعلمها الاهو (سـورة الانعـام) اوپيغمبرﷺ فرمـايي: مفـاتيح الغيـب خمـسٌ، ان الله عنـده علـم الـساعة وينـزل الغيـث ويعلـم مـافي الارحـام ومـاتـدری نفـس مـاذا تکـسب غـداً ومـاتـدری نفـسٌ بـای ارضٍ تمـوت (بخـاری شريف).

وعن ابن عمر رضی الله عنهما أن رسـول ﷺ قال: مفـاتيح الغيـب خمس لا يعلمها إلا الله: لا يعلم ما فی غد إلا الله، ولا يعلم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما تغيض الأرحام إلا الله، ولا يعلم متى يأتى المطر إلا الله، ولا تدرى نفس بأى أرض تموت، ولا يعلم متٰى تقوم الساعة إلا الله). (بخارى شريف). الله ﷻ فرمايي: ولوكنت اعلم الغيب لاستكثرت من الخير ومامسّني السوء. (سورة اعراف) په دې اياتونو اواحاديثوكې تصريح ده چې علم غيب اوعلم دمفاتيح الغيب چاته نه دی ورکړل سوی او پيغمبر ﷺ فرمايي چې حضرت خضر عليه السلام حضرت موسٰى عليه السلام ته وفرمايل: وماعلمك وعلمي وعلم الخلآئق فی علم الله الا مقدار غمس هٰذا العصفور منقاره (بخاری شريف). په دې حديث شريف کی تصريح ده چې علم اومعلومات دانبيآء عليهم السلام وغيرهم په نسبت دعلم اودمعلوماتو دالله ﷻ کالعدم دی اوپيغمبر ﷺ فرمايي: اللهم اني اعوذ بك من علمٍ لاينفع (مسلم شريف) نوبنآء پردې تعوّذ دپيغمبر عليه الصلاة والسلام علم به څرنګه کلي سی. صديق اکبر رضي الله عنه فرمايي: اشهد انك رسول الله ماعلّمك الشعر وماينبغی لك (ابن سعد وابن ابی حاتم).

وقال علی ابن طالب لم يُعمّ (من التعمية) على نبيكم الا الخمس من سرآئر الغيب (الدر المنثور) وعن عآئشة رضي الله عنها: من حدثك انه يعلم مافي غدٍ فقد كذب ثم قرءت: وما تدري نفس ماذا تكسب غدا (بخاری شريف). وعن ابن عباسؓ هٰذه الخمسة لايعلمها ملك مقرب ولانبي مصطفي، فمن ادعٰى انه يعلم شيئًا من هٰذه فانه كفر

(c) ketabton.com: The Digital Library



بالقرآن لانـه خالفـه (خازن سورة لقمـان) وعـن قتـادة استـاثر الله بهـنّ فلـم يطلـع علـيهنّ ملكًا مقربًا ولانبيًا مرسلاً (ابـنِ جرير، سورة لقمان).
عـن ابي حنيفـة رحمة الله عليه لايعلـم هٰذه العلـوم الخمـس الا الله (مدارك سورة لقمان) وفي المسائرة مع المسامرة ص **۲۳۵** (وكذا علم المغيبات) اى وكعدم علم بعض المسآئل عدم علم المغيبات فلايعلم النبى منها (الاما اعلمه الله تعالى به احيانـا وذكـر الحنفيــة فــى فــروعهم تــصريحًا بــالتكفير باعتقــاد ان النبــى صــلى الله عليــه وســلم يعلــم الغيــب لمعارضة قوله تعالى: قل لايعلم من فى السمٰوٰت والارض الغيب الا الله. والله اعلم. انتهٰى. وفى فتاوٰى قاضيخان فى باب مايكون كفراً من المسلم ومالايكون. رجل تزوج امرءةً بغير شهود فقال الرجل والمرءة خداى را وپيغمبر راگواه كرديم قالوا يكون كفراً لانه اعتقد ان رسول الله ﷺ يعلم الغيب، وهوما كان يعلم الغيب حين كان فى الاحيآء فكيف بعد الموت انتهٰى. ددې آثارو دصحابه وو اودتابعينو او ددې عباراتو دمتكلمينو اودفقهآوو څخه معلومه سوه چې علمِ كلي اوعلم غيب خاصه دالله ﷻ ده، څوك چې غيرالله لره علمِ كلي اوعلمِ غيب وايي هغه كافر دی.
**فائده**: الله ﷻ په بعضی مغيباتو باندی پيغمبر مطلع كوی لكـه ترغـزوه بـدر يـوه ورځ مخكـی پيغمبـر ﷺ دبعـضو كفاروپـه قتليـدو بانـدی اصـحاب رضي الله عنهم خبركـړل، او

(c) ketabton.com: The Digital Library



دارنګه نوري هم ډېرې واقعې په رواياتوکې ثابتې دي. په قرآنِ مجيد کې هم ددې ذکر سوی دی. الله ﷻ فرمايي: عالم الغيب فلا يظهر علي غيبه احداً (سورة الجن) وکذا المراد من غيبه جميع غيبه. وانما يطلع جلّ وعلا اذا اطلع من شآء علی بعضه مما تقتضيه الحکمة. الامن ارتضٰی من رسول ای لکن الرسول المرتضٰی يظهره جل وعلا علی بعض الغيوب المتعلقة برسالته کما يعرب عنه بيان من ارتضٰی بالرسول تعلقًاما. اما لکونه من مباديها بان يکون معجزةً واما لکونه من ارکانها واحکامها کعامة التکاليف الشرعية (روح المعاني بحذف).

الله ﷻ فرمايي: وماکان الله ليطلعکم علی الغيب ولکنّ الله يجتبی من رسله من يشآء (سورة آلِ عمران) وفی جامع البيان فيخبره ببعض المغيبات انتهٰی. نو معلومه سوه چې الله ﷻ انبيآء عليهم السلام په بعضو مغيباتو باندې خبرداره کوي، اوالله ﷻ اوليآء الله هم په بعضو مغيباتو خبرداره کوي ليکن هغه ته علم اويقين نه ويل کيږي، هغه ته ظن ويل کيږي.

**سوال:** په حديث دمعاذ بن جبل رضي الله عنه کې مروي دي چې پيغمبرﷺ وفرمايل: فتجلّي لي کل شيءٍ وعرفتُ. رواه احمد والترمذی. اودارنګه په حديث دعبد الرحمٰن بن عآئش رضي الله عنه کې مروي دي: فعلمتُ مافي السمٰوٰت والارض وتلا: وکذلك نري ابراهيم ملکوت السمٰوٰت

(c) ketabton.com: The Digital Library



والارض. رواه الدارمی والترمذی مرسلاً. اوداموهِم دعلم کلی دی.

**جواب**: دمخکنیو دلآئلو څخه دامعلومه سوه چی علم کلی په الله ﷻ پوری خاص دي اوداحدیث دهغوی سره په ظاهره معارض دي اودعقل سره هم معارض دي که پیغمبرﷺ ته علمِ کلی ورکړل سوی وای نوتردې وروسته به نزول دوحی ته ضرورت نه وای اودافك په واقعه کی به یوه میاشت په پریشانی کی ابتلآء نه وای نوپه دې حدیث کی مراد علم او تجلی دعجآئباتو ده لکه حضرت ابراهیم علیه السلام ته چی الله ﷻ عجآئبات ښوولی وه، کمافی المرقاة ج۲ ص۲۱۰ وکذلك ای کما نریك یامحمدﷺ احکام الدین وعجآئب مافی السمٰوٰت والارض نری ابراهیم اویا مرادپه دې حدیث کی هغه اشیآء دی چی علم په هغوی مناسب وی دشان دپیغمبر سره لکه آیات د: واتیناه من کلِّ شیءٍ سببا (سورة الکهف) او: واوتیت من کل شیء (سورة النمل) کی مراد هغه اشیآء دی چی مناسب دی دشان دبادشاه سره. دا استغراقِ عرفی دی. نوبنآء پردې عقیدې چی الله ﷻ علم غیب اوعلمِ کلی چاته نه دی ورکړی غیر الله ته غآئبانه آواز کول اودغیر الله څخه غآئبانه کومك کول شرك جلی دی.

**فآئده**: غیرالله ته غآئبانه آواز کول پنځه قسمه دی:

الف: چی کشف دپیغمبر وغیره ورته وسی او آواز ورته وکړی داجآئز دی. بآء: اوپه دې عقیدې سره چی ملایکی

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې ورته رسوی يوازی په صلاة او سلام کی جائز دی.
ج: اوپه دي خيال سره چی ممکنه ده چی الله ﷻ يې ورته ورسوی موهِم دشرك دی. د: اودعشق اودمحبت دوجې په شان دحاضر اودمخاطب ګرځول نه شرك دي اونه موهِم دشرك دي بلکه معمول اومعروف دي. هـ: اوپه اعتقاد دعلمِ غيب اودعلم کلی سره شرك جلی دی. اودشعار څخه داهلِ شرك اوداهلِ بدع اجتناب ضروری دی.
الله ﷻ پرهرڅه پرهرممکن قدرت لری. ماسوا دالله ﷻ څخه بل چالره داقدرت منل اوتسلط غيبی منل شرك دی. الله ﷻ صاحب داختيار اود ارادې دی. دده په اراده کی تخلف نه راځی. ماسوا دالله ﷻ څخه بل چالره داسی اراده ثابتول اومالك دضرر اودنفع ګرځول شرکيات دی. الله ﷻ هرڅه اوری اوهرڅه وينی په هروخت کی، غيرالله ته داصفت ثابتول شرك دی. الله ﷻ ګونګی نه دی ګويا دی ازلاً ابداً، چی څه وخت خبری کول غواړی خبری کولای سی اوپه يوه وخت کی دهرچا سره خبری کولای سی دا صفت دغير الله دپاره ناممکن دی.
الله ﷻ مالك دحل اوحرمت دی، غيرالله مالك دحل او دحرمت منل شرك دی، کمافی حديث عدی بن حاتم قال: اتيت النبی ﷺ وفی عنقی صليب من ذهب فقال ياعدی اطرح عنك هٰذا الوثن وسمعته يقرء فی سورة برآءة: اتخذوا احبارهم ورهبانهم اربابا من دون الله، قال: اما انهم لم

(c) ketabton.com: The Digital Library



یکونـوا یعبـدونهم ولکـنهم کـانوا اذا احلـوا لهـم شـیئًا استحلوه واذا حرّموا علیهم شیئًا حرّموه. (رواه الترمذی).
**فآئـده**: مالـك دحـل اودحرمـت یـوازی الله ﷻ دی، انبیـآء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ تابعـدار دوحي اوداذن دالله ﷻ دي اومجتهـدین شـارعین نـه دي بلکـه شـارحین داشـارت اوداقتـضآء او ددلالـت اوداعتبـآر دوحـی دی. اوتعـین دمـراد دمجمـل او دمشترك کوی اودفع دتعارض کوی.
ماسوا دالله ﷻ څخه بل چاته په اعتقاد دتسلط غیبی اوپه ارادي دعبـادت سـره سـجده کـول شـرك دی اوپـه ارادي دتعظیم اوداکرام سره حرام دی.الله ﷻ فرمایی: لاتسجدوا للشمس ولا للقمر واسجدوا لله الذی خلقهـن (حم السجدة) وقـال رسـول الله ﷺ لوکنـت اٰمـرًا احـدًا ان یـسجد لاحـد لامـرت المـرءة ان تـسجد لزوجهـا. (رواه الترمـذی) وفـی کراهیة الهندیة: من سجد للسلطان علی وجه التحیة اوقبّل الارض بین یدیه لایکفر ولکن یاثم لارتکابه الکبیرة، هو المختار. قال الفقیه ابوجعفر رحمه الله: وان سجد للسلطان بنیـة العبادة اولـم تحضره النیـة فقد کفر. کذافی جواهر الاخلاطی.
نذر عبادت دی نوصرف دالله ﷻ دپاره بـه کول کیـږی کما فی البحر قبیـل الاعتکاف عـن الـشیخ القاسم: واما النذر الـذی ینـذره العـوام علـی مـاهو مـشاهد فهٰذا النـذر باطـل بالاجماع لوجوهٍ.....**منها** انـه نذر للمخلوق والنذر للمخلوق

(c) ketabton.com: The Digital Library



لایجوز لانه عبادة والعبادة لاتکون للمخلوق...**ومنها** ان المنظور له میت، والمیت لایملك...**ومنها** انه ظن ان المیت یتصرف في الامور دون الله واعتقاده ذٰلك کفرٌ. انتهٰی بحذف.

ذبح به دالله ﷻ په نامه کول کیږی اوپه ذبح سره به دغیرالله دتقرب او دخوشحالولو څخه اجتناب کول کیږی که څوك دذبح په وخت کی دغیرالله نوم واخلی هغه حرام قطعی دی اوکه څوك دذبح په وخت کی دالله ﷻ نوم واخلی لیکن ددې سره دغیر الله لکه دولی یادجن اویا بل شی رضا او خوشحاله کول یې مقصود وی نودا مذبوحه حرامه ده (درمختار وغیره) اوکه څوك دالله ﷻ نوم په وخت دذبح کی ذکر کړی اوپه ذبح سره یې تبرّك یاتصدق یاتشکر مقصود وی نودا حلاله ده (اشاراتِ شامی). دقصاب ذبح جآئزه ده دده مقصود تموّل وی، نه تقرب دغیر الله، دمیلمه دپاره ذبح کول سنّتِ ابراهیمي دی اوسنّتِ محمّدي دی. په دې ذبح کی مقصود اکرام دمیلمه وی په ارادې دغوښی خوړلو سره (شامی). دننواتی پسه حلال دی، په دې ذبح کی مقصود په تازه غوښی سره اکرام اواهدآء وی نه تعظیم په ذبح اوپه اراقت ددم سره حتٰی که دا پسه ژوندی ورخوشی کړل سی نوهم کافی ګڼل کیږی اوکه دا ذابح دا ذبیحه کورته راوړی یایوچاته یې په خیرات کی ورکړی نو ناکافي شمارل کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ❸ دریمه مقاله :

په دریمه مقاله کې مسئله ددُعا وروسته ترلمانځه ذکر کیږي.

**یوه سه** چې دعا عبادت دی. پیغمبر ﷺ فرمایي: الدعآء هو العبادة (رواه الترمذی) اوالله ﷻ دعاته عبادت ویلی دی: وقال ربکم ادعونی استجب لکم ان الذین یستکبرون عن عبادتی سیدخلون جهنّم داخرین (سورة المؤمن) بلکه دعا دعبادت مغز دی. پیغمبر ﷺ فرمایي: الدعآء مخٌّ العبادة (رواه الترمذی) دُعا دعبادت مغزدی یعنی کامل عبادت دی. ځکه چې عبادت هغه تعظیم اوعاجزی ته ویل کیږي چې دیوه ذات پرتسلط غیبی باندی دلالت کوی اوپه دعاکي دا دلالت په واضح ډول سره موجود دی.

بعضي خلګ وایي چې تقدیرنه بدلیږي نودعا کول عبث دی لیکن دایو فاسد خیال دی ځکه چې کله یوشي عبادت وی اودالله ﷻ دطرفه څخه مطلوب وی اودانبیآء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ معمول وی نوهغه عبث کیدی نسی اوپه عالَمِ اسباب کی لکه چې دنورو اسبابو اوذرآئعو استعمال دتقدیر سره متصادم نه دی نودارنګه دُعا هم یوسبب اوذریعه ده او دتقدیر سره به متصادم نه وی.

ددعا کولو ډیر آداب دي چې ددوي رعایت کول موافق دخپلی درجې سره ډیر مهم دی: **١**. دواړه لاسونه پورته کول

(c) ketabton.com: The Digital Library



کمافی البیهقی یرفع یدیه فی الدعآء. لیکن په لمانځه کی په عام ډول سره به لاس نه پورته کیږی کما فی مصنّف ابن ابي شیبة: ان رسول الله ﷺ لم یکن یرفع یدیه حتٰی یفرغ من صلاته. **۲**. تردعآء مخکې حمد اوصلاة ویل: لحدیث ابي داؤد اذا صلیتَ فقعدتَ فاحمد الله بماهو اهله وصل عليَّ ثم ادعه. **۳**. ناجآئز سوال نه کول لحدیث مسلم یستجاب لعبد مالم یدع باثمٍ اوقطیعة رحمٍ. **۴**. په حضور او توجه سره سوال کول اودقبلیدو یقین درلودل لحدیث الترمذی ادعوا الله وانتم موقنین بالاجابة واعلموا ان الله لایستجیب دعآء من قلب لاهٍ. **۵**. په عزم او اصرار سره دعا کول لحدیث البخاری اذا دعا احدکم فلایقل اللهم اغفرلی ان شئتَ ولیعزم مسئلته. **۶**. الفاظ ددعا درې واره مکرر کول لحدیث مسلم وابي داؤد ان رسول الله ﷺ کان یعجبه ان یدعو ثلاثًا. **۷**. دقبلیدو تلوار نه کول، حوصله اوهمّت لوړ ساتل لحدیث البخاری: یستجاب للعبد مالم یعجل. **۸**. په آخرکی آمین ویل لحدیث ابی داؤد ان ختم بآمین فقد اوجب. **۹**. پرمخ لاس راتیرول لحدیث ابی داؤد قال عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ فاذا فرغتم فامسحوا بها وجوهکم. **۱۰**. دحرامو څخه ځان ساتل لحدیث مسلم: مطعمه حرامٌ ومشربه حرامٌ وغذی بالحرام فانی یستجاب لذٰلك. **۱۱**. په هیئتِ اجتماعیّه سره دعا کول، حضرت موسٰی او حضرت هارونَ عَلَيْهِمَا السَّلَامُ په هیئتِ اجتماعیه سره دعا کړی وه الله

(c) ketabton.com: The Digital Library



ﷻ فرمايي: قد اجيبت دعوتكما وفي تفسير القرطبي ج ۸ ص **۳۷۵** عن ابي العالية كان موسٰى عليه السلام يدعو وهارون عليه السلام يؤمنّ. او پيغمبر ﷺ په هيئتِ اجتماعيه سره ددعا كولو ترغيب وركړى دى كما رواه الحاكم وذكر في كنز العمال قال النبي ﷺ لايجتمع ملاء فيدعو بعضهم ويؤمنّ بعضهم الا اجابهم الله تعالى، وكما رواه الدارمي وذكره الحافظ العسقلاني في الفتح ما اجتمع ثلاثةٌ قط بدعوة الاكان حقًا على الله ان لا يرد ايديهم اوصاحبِ هداية په كتاب الحج كي ليكلي دى: والاجابة في الجمع ارجٰى.

**سوال**: عبدالله بن مسعود رضي الله عنه په هيئتِ اجتماعيه سره دذكر كولو څخه انكار كړى دى كما رواه الحاكم باسناده. نو معلومه سوه چي احداث دجماعاتو منكر دى.

**جواب**: پيغمبر ﷺ په هيئتِ اجتماعيه سره ددعا كولو ترغيب وركړى دي اودارنګه په هيئتِ اجتماعيه سره دذكر كولو ترغيب يي وركړى دى كمافي حديث الترمذي اذا مررتم برياض الجنة فارتعوا، قالوا ومارياض الجنة قال حلق الذكر، وكمافي حديث مسلم: ان رسول الله ﷺ خرج علٰى حلقة من اصحابه فقال ماجلسكم هٰهُنا، قالوا فذكر الله وفي آخره اتاني جبرئيل عليه السلام فاخبرني ان الله تعالى يباهي بكم الملآئكة، وكمافي حديث مسلم في حديث ملآئكة سيّاحين هم (اى الذاكرون) قومٌ لايشقي بهم

(c) ketabton.com: The Digital Library



جلیسهم اوحدیث دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه حدیث موقوف دی اوحدیث موقوف په مقابله دحدیث مرفوع کی مرجوح اومتروك وی اویا عبدالله بن مسعود رضي الله عنه انکار کړی دی پر شمیرلو دنیکیو اوپر پرېښوولو دشمیر دګناهونو باندی نه پر احداث دجماعت باندی، کما فی سنن الدارمی ج ۱ ص ۶۱ فقال عبدالله بن مسعود ما هٰذا الذی اراکم تصنعون، قالوا یاعبد الرحمٰن حصًی نعدّبه التکبیر والتهلیل والتسبیح قال فعدّوا سیئاتکم فانا ضامن ان لایضیّع من حسناتکم شیءٌ، اوممکنه ده چې عَبْدُ الله بن مسعود رضي الله عنه انکار کړی وی پراهتمام ددې فعل باندی لوړ ترخپل حیثیت.

**۱۲**. په اوقاتو داجابت کی دعاکول. **پوه سه** چې اوقات داجابت ډیردی، په دې رساله کې پنځه وقتونه ذکر کول کیږی، اوّل داذان وخت، دوهم دمقدس جنګ وخت، دریم دباران پروخت کمافي حدیث ابي داؤد ثنتان لا تردان الدعآء عند الندآء وعند البأس حین یلحم بعضهم بعضًا وفی روایة وتحت المطر اوڅلورم دشپې په آخری حصه کی او پنځم ترفرض لمانځه وروسته کمافی حدیث الترمذی: قیل یارسول الله ای الدعآء اسمع قال جوف اللیل الاخر ودبر الصلوات المکتوبات.

**دلفظ** (**دبر**) **تشریح**: **پوه سه** چې د دبر الصلاة دوه اطلاقه دی، دده اطلاق کیږی پر ماقبل دسلام باندی اودا واضح دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکـه چـې دبـر دشـي وروسـتنی جـزء تـه دشـی ویـل کیـږی اودوهـم اطـلاق یـې کیـږی پرمابعـد اوپـر خـارج دلمانځـه باندی هم، لکه چې په حدیث دمسلم شریف کې راغلي دي: معقبات لايخيب قآئلهن دبر كل صلاةٍ ثلث وثلثون تسبيحةٍ وثلاث وثلاثون تحميدة واربع وثلاثون تكبيرةٍ اودارنګـه په دې مذکور حدیث دترمذی شریف کی راغلی دی.

**فآئده**: دبر المکتوبات مابعد دفرآئضوته ویل کیـږی برابـره خبره ده که متصل وی اوکـه منفصل وی، پـه متـصل پـوری خاص نه دی ځکـه چې نبی ﷺ ترغیـب ددعـا اوتـسبیحاتو دواړو ورکړی دی پـه لفظ ددبـر سـره. اودا ناممکنـه ده چـې دواړه په یـوه وخـت کـی متـصل دفرآئضو وکـړل سـی، نوکـه دعا اول وکـړل سـی تـسبیحات بـه دبـر الفـرآئض نـسی اوکـه تسبیحات وکړل نودعا به دبـر الفـرآئض نـسي اوجمـع بـه پـه مابینځ دتسبیحاتو اوددعا کې خلاف سنّت سي حالانکـه دا دهیچا قول نـه دي کـه اوّل دعـا وسـي اووروسـې تـسبیحات وویل سی اوکه بالعکس وسی یوهم خلافِ سنّت نـه دی نـو معلومه سوه چې دفرآئضو اوددعـا فـصل پـه تـسبیحاتوسره جـآئز دی اودارنګـه دفرآئـضو اودتـسبیحاتو فـصل پـه دعـا سره جآئز دی نودا لازمه سوه چې لفظ د دبر تقاضا داتـصال نه کوی، نوکله چې دفرآئضو اوددعـا فـصل پـه تـسبیحاتو سره ددعـا ودبر المکتوبات کیدوته ضرر رسوونکې نـه دی ځکه چې تسبیحات سننِ مرغوبه دی نودارنګه دفرآئضو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددعا فصل به په لمانځه سره ضرر رسوونکی نه وی بلکه په طریق اولی سره به ضرر رسوونکی نه وی ځکه چی اتصال دلمانځه دفرآئضو سره اشدّ دی تر اتصال دتسبیحاتو دفرآئضو سره. دقیامت په ورځ به لمونځ قآئم مقام دفرآئضو گرځی نه تسبیحات.

اوفقهآء کراموؒ تصریح کړیده چی کم ذکر یابل شی وروسته ترسنتو مؤکدو وکړل سی نودوی ته دبر المکتوبات ویل کیږی علامه شامیؒ په رد المحتارکی فرمایی: واما ما ورد من الاحادیث فی الاذکار عقیب الصلاة فلا دلالة فیها علی الاتیان بها بعدها لان السنة من لواحق الفریضة وتوابعها فلم تکن اجنبیة عنها، فما یفعل بعدها یطلق علیه انه عقیب الفرآئض انتهٰی (ج ۱ ص ۴۹۴) اومحقق ابن الهمامؒ په فتح القدیر کي فرمایي: وما ورد انه صلی الله علیه وسلم کان یقول دبر کل صلاةٍ لااله الا الله وحده الی ان قال لا یقتضی وصل هٰذه الاذکار بل کونها عقیب السنة من غیر اشتغال بما لیس من توابع الصلاة یصحح کونها دبرها. انتهٰی (ج ۱ ص ۳۱۳).

**فآئده**: پر اهلِ علم باندی پټه نه ده چی پیغمبر علیه الصلاة والسلام په بعضو اوقاتو کی په هیئتِ اجتماعیه سره په خطبي دجمعې کی دعاء کړیده لکه په بخاری شریف (ج ۱ ص ۱۴۰) کی روایت دی: فرفع رسول الله صلی الله علیه وسلم یدیه یدعو ورفع الناس ایدیهم مع رسول الله یدعون.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوپه بعضو اوقاتو کی په انفرادی ډول سره یې وروسته ترلمانځه دسهار کړیده یابه یې مخ دقبلې طرف ته وو، کما روی الحاکم وابن ابي شيبة ان رسول الله صلى الله عليه وسلم رفع يديه بعدما سلم وهو مستقبل القبلة فقال اللهم اخلص الوليد الى آخره. وذكره الحافظ ابن كثيرؒ فى تفسيره (ج ۳ ص ۱۷۲) اویابه یې مخ دقوم طرف ته وو، کما روی ابن ابی شیبة فی مصنفه قال ابو الاسود صليت مع رسول الله صلى الله عليه وسلم فلما سلم انحرف ورفع يديه ودعا.

او وروسته ترفرضو یا وروسته تر سنتو په هیئتِ اجتماعیه سره ددعا کولو په باره کی ذخیره داحادیثو ساکته ده، نه پکښی دکولو متعلق روایت موجود دی اونه پکښی دنه کولو روایت موجود دی. دې ته عدم دذکر او عدم درروایت ویل کیږی نوکه څوك دادعوه وکړی چی پیغمبر ﷺ دا دعانه ده کړی نودایې افتراء پر پیغمبر علیه الصلاة والسلام وکړله اودارنګه چی څوك دادعوه وکړی چی پیغمبر علیه الصلاة والسلام کړیده نوداهم افتراء ده.

اوکه څوك ووایی چی نبی ﷺ که دادعا کړی وای نو مروی به وای نو مخالف به یې دا ووایی که دادعا یې نه وای کړی نو دانه کول به مروی وای لکه چی داختر دلمانځه دپاره اذان اواقامت نه دی سوی اودا نه کول مروی دی کما في رواية ابي داؤد ص ۱۲۹ وغیره. پرهر حال په هیئتِ

(c) ketabton.com: The Digital Library



اجتماعیـه سـره ددې دعـا متعلـق اودارنګـه داللهـم انـت السلام متعلق ذخیره داحادیثو ساکته ده اودعدمِ ذکر او دذکر دعدم پـه مابینځ کې فـرق نـه کـول غباوت دی اویـا غوایت دی.

**فائده**: حدیث قـول، فعـل، تقریر دپیغمبر علیه الصلاة والسلام تـه ویل کیږی نویو کاربه هلته خلافِ سنت اوبدعت کیږی چی نه په قول درسول ﷺ سره ثابت وی اونـه پـه فعـل اوتقریر سره ثابت وی نودا دعوه کول چی داکار بدعت دی ځکه چی پیغمبر ﷺ نه دی کړی غباوت دی یاغوایت دی.

**فائـده**: ترلمانځـه وروسـته پـه هیئـتِ اجتماعیـه سـره ددعـا کولو په باره کی فعل درسول الله ﷺ ساکت دی البتـه قـول درسول الله ﷺ ثابت دی هغـه حدیث ددبر المتکوبات دی (رواه الترمذی). اوپـه دې حدیث کـې نـه درفـع الیدین ذکـر سته اونه دحمد اوصلاة ذکر سته نه پکښی دامین اومسح دمخ ذکر سته اونـه پکښی دانفراد یاداجتمـاع ذکـر سـته، لیکن قاعده داده چی: اذا ثبت الشیء ثبت بادابه ولوازمه. نـو پرهـر حـال پـه دې دعـا کـې بـه ددې ادابـو رعایـت کـول کیږی برابره خبره ده که دادعا په فرآئضو پسی کول کیږی اوکه په سنتو پسی کول کیږی.

**فائده**: پـه شرح دشرعة الاسلام کی لیکل سوی دی: ویغتـنم الدعآء بعد المکتوبة قبل السنة علی ماروی عـن البقـالی (المعتزلـي فـي الاصـول، الحنفـي فـي الفـروع مثـل صـاحب

(c) ketabton.com: The Digital Library



الکشاف) من انه قال الافضل ان یشتغل بالدعآء ثم بالسنة، وبعد السنن والاوراد علی ماروی عن غیره وهو المشهور المعمول فی زماننا فانه مستجاب بالحدیث (تعلیق الکوکب الدری ج ۲ ص ۲۹۱) قلت: ومثل قول البقاعی مروی عن الامام جعفر الصادق فی الطبرانی.
نودعا کول وروسته تر فرآئضو افضله ده په نزد دامام بقالی اودي ته اکثره اکابر میلان کوی او وروسته ترسنتو افضله ده په نزد دجمهورو، اودا مختاره کړیده فقهاء کرامو ؒ.
دابن الهمام ؒ اودابن عابدین ؒ رایه مخکی ذکرسوه اوابنِ نجیم ؒ صاحب دبحر فرمایی: لکن عندنا السنة مقدمة علی الدعآء الذی هو عقب الفراغ (ج ۸ ص ۳۰۴) اوحسن شرنبلالی ؒ صاحب دمراقی الفلاح فرمایی: ویستحب للامام بعد سلامه ان یتحول الی جهة یساره لتطوع بعد الفرض، ویستحب ان یستقبل بعده ای بعد التطوع وعقب الفراغ ان لم یکن بعده نافلة یستقبل الناس الی ان قال ثم یدعون لانفسهم وللمسلمین رافعی ایدیهم ثم یمسحون بها وجوههم. انتهٰی بحذف (اعلی الطحطاوی ص ۲۵۳ الی ۲۵۷) اوابنِ نجیم ؒ په الاشباه والنظآئر کی فرمایی: الاشتغال بالسنة عقیب الفرض افضل من الدعآء (ص ۱۲۷ ۱۲۸).
صاحب دخلاصة الفتاوٰی فرمایی: بعد الفریضة الاشتغال

(c) ketabton.com: The Digital Library



بالسنة اولى من الاشتغال بالدعآء (ج ۱ ص ۹۵). او قسطلاني په ارشاد الساري شرح دبخاري کې فرمايي: وعند الحنفية يکره له المکث قاعداً يشتغل بالدعآء لان القيام الى السنة بعد ادآء الفريضة افضل من الدعآء والتسبيح والصلاة (ج ۲ ص ۱۴۴).

**فآئده**: التزام دما لايلزم او اهتمام ديوه شي لوړ تر خپلې درجې بدعات دي. الله ﷻ پرهغو انصارو انکار کړی دی چې داحرام په حالت کې خپل کورونو ته دشا دطرفه څخه دراتلو اهتمام اوالتزام يې کړی وو، الله ﷻ فرمايي: وليس البر بان تاتوا البيوت من ظهورها ولکن البر من اتقٰى واتوا البيوت من ابوابها (سورة البقرة) اوعبدالله بن مسعود رضي الله عنه انکار کړی دی پرهغه چاچې وروسته تر لمانځه يې رسته طرف ګرځيدل لازم ګڼل، حيث قال: لا يجعل احدکم للشيطان شيئًا من صلاته يرٰى ان حقًا عليه ان لاينصرف الاعن يمينه (بخاري ج ۱ ص ۱۱۸). اوملا علي قاري رح فرمايي: من اصر على امرٍ مندوبٍ وجعله عزمًا ولم يعمل بالرخصة فقد اصاب منه الشيطان من الاضلال (مرقاة ج ۲ ص ۵۳).

**پوه سه** چې التزام پردوه قسمه دی، يوحقيقي دی چې يوشی لازم او واجب نه وی اواعتقاد دلزوم اودوجوب يې وکړل سی اودا دنذر په صورت کې جآئز دی اوماسوا دنذر څخه مکروه اوبدعت دی. دوهم حکمي دی چې يو شي لازم

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوواجب نه ګڼي، لیکن ترخپل حیثیت لوړ اهتمام ورلره ورکوي لکه چې دعبدالله بن سلام رضی الله عنه ابتلاء پکښې راغلې وه اوالله جل جلاله وربانـدې انکار وکـړ، اونازل سـوه: یٰایها الذین اٰمنوا ادخلوا فی السلم کافةً ولا تتبعوا خطوات الشیطان (سورة البقرة) اودارنګه انصار په ابتلاء کې راغلي وه اوپه لیس البر بان تاتوا البیوت من ظهورها سره انکار وربانـدې وسو. البته په التزام اودوام کې فرق ضروري دی، التزام دیوه مستحب ممنوع دی، اودوام پر یوه مستحب باندې مطلوب دی. قا ل رسول الله صلی الله علیه وسلم: خیر العمل مادیم علیه. وقال رسول الله صلی الله علیه وسلم احب الاعمال الی الله ادومها وان قلّ. رواه البخاري ومسلم عن عآئشة رضی الله عنها. اودالتزام اوددوام په مابینځ کې عموم اوخصوص من وجه دی چې څوك په فرضو یاپه سنتو پسې همیشه دعا کوي اودالتزام سره یې کوي نوده دوام او التزام دواړه وکړل، اوڅوك چې په فرضو یاپه سنتو پسې کله کله دعا کوي او التزام کوي نوده التزام وکې لیکن دوام یې ونکې، اوڅوك چې په فرضو یاپه سنتو پسې همیشه دعا کوي لیکن نه ورته لازم وایي اونه یې پرتارك باندې انکار کوي نوده دوام وکې او التزام یې ونکې اودبدعت څخه محفوظ سو. البته دعوامو داصلاح دپاره کله کله په فرضو اوسنتو پسې دعا پرېښوول مناسب دی چې په التزام کې مبتلاء نسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**فائده**: پیغمبر ﷺ دزیارة القبور په وخت کی درې واره دعا کړېده، کما فی مسلم (ج ۱ ص **۳۱۲**) جآء النبی صلی الله علیه وسلم البقیع فقام فاطال القیام ثم رفع یدیه ثلاث مراتٍ ثم انحرف. اوتر فرضو اوسنتو وروسته درې واره دعا کول نه مطلوب دي اونه ممنوع دي، امر مباح دی اوهر مباح چی دعوامو وربانـدی عقیده دسُنِّیت پیدا کیـږی نوهغه مکروه سی کمافی الشرح الکبیر: کل مباح یؤدّی الیه ای الی اعتقاد الجهلة سنیتها فمکروه (**۵۷۳**).

(**مسئله فقهیه**) : ترکم لمانځه وروسته چی سنّت نه وی نوامام خوښه ده که ولاوړېږی اوکه کښېنی لیکن مخامخ وقبلې ته به زیات ترمقدار د اللهم انت السلام (الی آخره) نه کښېنی. (بدآئع) اوبنآء پرحدیث دترمذی شریف وروسته ترفرضو دسهار او وروسته ترفرضو دماښام په مقدار دلس واره اشهد ان لآاله الا الله الی آخره، ویلو ناسته مستثنی ده (مراقی الفلاح وطحطاوی ص **۲۵۲،۲۵۳**) اوامام چی کښېنی نوخوښه یې ده که رسته طرف ته ګرځی اوکه چپه طرف ته اوکه قوم ته مخامخ کښېنی که یې مخامخ څوك لمونځ کوونکی نه وی (بدآئع) اوتر کم لمانځه وروسته چی سنّت وی نوامام به په مقدار داللهم انت السلام اونورو اذکارو کښېنی بیابه سنت کوی (مراقی الفلاح وطحطاوی ص **۲۵۲**) سنت به په هغه ځای کی نه کوی چی په کم ځای کی یې فرض کړی دی (بدآئع ج ۱ ص ۱۲۰). البته که

(c) ketabton.com: The Digital Library



مقتدی وروسته ترفصل اوانتظار پردغه ځای سنت وکی نودا جآئز دی (حدیث ابوداؤد).

### ❹ خلورمه مقاله :

په دی مقاله کې مسئله ددعا وروسته ترجنازی ذکر کيږی.
وروسته ترنمازِ جنازه دصفونو ترماتولو مخکی دعا کول مکروه دي او وروسته ترصفونو ماتولو دعاکول جائز دی البته پردعا قبل السلام باندی اکتفا کول دتعامل دسلفو سره موافق معلوميږی.
دپيغمبرﷺ اودسلف صالحينو څخه ددی دعا دکولو يادنه کولو متعلق ذخيره داحاديثو ساکته ده، نه پکښی دکولو روايت موجود دی اونه پکښی دنه کولو متعلق روايت موجود دی که څوك دادعوه وکي چی پيغمبرﷺ اوسلف صالحينو دادعانه ده کړی نودا پرپيغمبر ﷺ باندی افتراء ده پرهر حال دعا بذات خود عبادت دی اومغز دعبادت دی ليکن داخاصه دعانه مطلوب ده اونه ممنوع ده بلکه مباح ده ځکه چی اصل په اشياوو کی اباحت دی، کماصرح به ابن الهمام وغيره ويؤيده مارواه ابوداؤد ان ماسکت عنه فهو عفو.
اوددي دعاقياس کول پراذان دصلاةعيد باندی غلط قياس دی ځکه چی ددي دعا متعلق عدم دذکر، اوعدم درو ايت اوسکوت ثابت دی اوداذان دنماز عيد متعلق ذکر دعدم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ثابت دی وهوماروواه ابوداودان رسول الله ﷺ صلی العید بلا اذان ولا اقامة وابابکر وعمر رضی الله عنهما (صـ ۱۲۹) دعدم ذکر څخه ذکر دعدم جوړول دادسلفیانو اوددوی دمتبعینو غلطه شیوه (عادت) ده.

که څوك دا اعتراض وکی چی دپیغمبر ﷺ اودبعضی صحابه وو رضی الله عنهم څخه دا دعا ثابته ده چی پیغمبر ﷺ فرمایې اذاصلیتم علی المیت فاخلصوا له الدعاء (رواه ابو داؤد) اوامام کاسانی ؒ فرمایې چی دحضرت عمر رضی الله عنه څخه یووار جنازه وسوه نواراده یې ددوباره جنازی کولو وکړله نوپیغمبر ﷺ وفرمایل الصلاة علی الجنازة لاتعاد ولکن ادع للمیت واستغفرله (بدائع ج اص ۳۱۱) اودارنګه امام کاسانی ؒ دابن عباس اودابن عمر اودعبدالله بن سلام رضی الله عنهم څخه روایت کړیدی چی ددوی څخه به جنازه وسوه نوپردعا باندی به یې اکتفا کوله. (بدائع ج اص ۳۱۱) نوجواب ددی اعتراض دادی چی حدیث دابوداؤد ټولو محدثینو اوفقهاوو پردعا قبل السلام باندی حمل کړیدی، اوجواب ددی نورو روایاتو څخه دادی چی دچا څخه جنازه وسی اودعا کوی نودا محل دنزاع نه دی. محل دنزاع دجنازه کونکو دعا ده.

**فائده**: دډیرو مفسرینو ؒ اودډیرو فقهاوو ؒ دکلام څخه ددی دعامنع معلومیږی اواکثروڅه دلیل ندی ذکر کړی اوبعضو دلیل ذکر کړیدی لکه صاحب دبزازیه سو چی فرمایې: لا

(c) ketabton.com: The Digital Library



يقوم بالدعاء بعد صلاة الجنازة لانه دعا مرة لان اكثرها دعاء (هامش هنديه ج ۴ ص ۸۰) يعنی جنازه دعاده اوچی ورپسی دعا وکي نوتکرار دلمانځه دجنازي به لازم سي او ددي عبارت دبزازيې دامرادنه دي چی دسلام څخه وروسته بله دعا وسی نو تکرار ددعا به لازم سي، که ددي عبارت څخه دغه مرادسی نوپه هرلمانځه پسی به دعا منع سی ځکه چی دسلام څخه مخکی یووار دعا مسنونه ده، اولکه صاحب دمرقاة ملاعلی قاری چی فرمايي: لانه يشبه الزيادة فی صلاة الجنازه. اوتکرار دنمازِ جنازه اوزيادت پر نماز جنازه باندی هلته لازميږی چی په صفونوکی ولاړوی اودعا وکی، اوچی صفونه مات سی نوبيا داتوهمات نه لازميږی اودی نکتی ته هغه فقهاوو اشاره کړيده چی په لا يقوم بالدعاء سره طويل تعبير کوی اوپه لا يدعوا سره مختصر تعبيرنه کوی اودغه حکمت دی په منع دسنتو کولوکي وروسته ترفرائضو متصل په دغه مکان دفرضو کی.

څوك چی ددی دعا دکراهيت دثابتولو دپاره دا دليل وايی چی دادعا پيغمبرﷺ اوسلفو صالحينونه ده کړی نودا حنفي دليل نه دی بلکه سلفي دليل دی اودا دليل په درو وجهو غلط دی: **اول**: دا افتراء ده پرپيغمبر ﷺ اوپر سلفو باندی. ددوی څخه ددی دعا متعلق هيڅ روايت موجودنه دی اودعدم دذکر اوذکر دعدم په مابينځ کي فرق نه کول

(c) ketabton.com: The Digital Library



غباوت یاغوایت دی. **دوهم**: داچې دعدم دفعل څخه عدم دجوازنه ثابتیږی ځکه چې حدیث صرف فعل ته نه ویل کیږی بلکه قول فعل اوتقریر درو واړو ته ویل کیږی. او فقهاء اومشائخ چې داتعبیر وکي، نوپه دی کې اختصار وی، مرادیې داوی چې نه یې کړیدی اونه یې ویلی دی اونه یې اقرار ورکړی (فلیراجع الی التعلیق الممجد علی هامش موطآء الامام محمد ص ۱۴۴) **دریم**: داچې دادلیل منقوض دی جمعًا منعًا، پیغمبرﷺ په اُردو اوپه پښتوکې ترجمه دقرآن نه ده کړی اواذان یې په نزد دمحققینو نه دی ویلی او پرتوګ یې بنا پرصحیح روایاتو ندی اغوستی اودارنګه رفع الیدین یې په وخت درکوع وغیره کې کړیده اوپه لمانځه کې یې خبری کړیدی. فافهم.

اوکه څوك اعتراض وکي چې دعبادت دپاره دخپل طرفه وخت مقرر کول مکروه دی لکه چې صاحب دبحر په ضمن دیوه تعلیل کې فرمایي: ولان ذکر الله اذا قصد به التخصیص بوقت دون وقت اوبشیء دون شیءٍ لم یکن مشروعا حیث لم یرد الشرع به لانه خلاف المشروع (ج ۲ ص ۱۵۹) نوجواب یې دادی چې شرع اووحی ددی دعا متعلق ساکته ده نودا دعابه بناء پرحدیث دابوداؤد وما سکت عنه فهو عفو، عفوه اومباح وی نه مشروع. یعنی فرض واجب، مستحب به نه وی اومکروه به هغه وخت ګرځی چې په طور دلواحقو اودمکملاتو دلمانځه دجنازی

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړل سی، کنې نومکروه به نوی لکه صاحب دبحر دې ته اشاره کړیده، حیث قال فی البحر: (ج ۲ ص ۱۵۹) ولا یکبر فی طریق المصلی عندابی حنیفة ای حکما للعید ولکن لو کبر لانه ذکر الله تعالی یجوز ویستحب انتهٰی.

**❺ پنځمه مقاله:**

په دې مقاله کې حیله داسقاط ذکر کیږي. چې دکم مسلمان عاقل بالغ څخه لمونځونه اوروژی عمداً یابلا عمد قضاسی نوپرده باندی قضاء فرض ده اودقضاء نه کولو په صورت کې دی ګناهګار دی اوچې څه وخت دزندګی څخه مایوسه سی نوپرده باندی داوصیت کول ضروری دی چې دده دترکې. داموال منقوله اودغیرِ منقوله ددریمی حصې څخه دهر لمونځ اودهری روژی په مقابله کې تخمیناً دوه دوه کیلو غنم یاددی قیمت مساکینوته ورکول سي اوکه دا وصیت یې ونه کې نودی ګناهګار مړسو اوکه ددی سړی مال نه وو اویا دا دریمه حصه یې دفراغت دذمې دپاره ناکافی وه اویا دفسق اودجهل دوجې وصیت یې ونه کې نووارث وغیره دده دطرفه باقاعده حیله داسقاط کولی سي. (ماخوذ از رد المحتار ص ۴۹۲ ج ۱).

حیله هغه مباح کار یاګفتار ته ویل کیږی چې په هغه سره یوه مقصودته په پوشیده طریقی سره رسایې وسي، صاحب دمفردات فرمایي: الحیلة مایتوصل به الی حالة مافی

(c) ketabton.com: The Digital Library



خفية (ص ۱۳۸) اوابن حجرؒ فرمايي: هی مايتوصل به الی مقصود بطريق خفی. (فتح الباری ج ۱۲ ص ۲۷۴). او صاحب دالاشباه والنظائر فرمايي: هی تقليب المنكر حتی يهتدی الی المقصود (ص ۴۱۷).

**پوه سه** چی دحيلې ډير اقسام دی، په دی رساله کی صرف دوه قسمه بې ذکر کيږی، اول هغه حيله ده چی دتحليل دحرامو او دابطال دشريعت دپاره وی لکه چی اصحابِ سبت دتحليل دښکار دپاره کړی وه (قرآن) اوبعضی يهودو دتحليل دوازګی دپاره کړی وه (بخاری شريف) اوداحيله بلا شکه حرامه ده، دوهمه هغه حيله ده چی دحرامو څخه دخلاصيدو اودفراغت دذمی او داسقاط دواجب دپاره وی لکه چی حضرت ايوب عليه السلام کړی وه، قال الله تبارك وتعالی: وخذ بيدك ضغثا فاضرب به ولاتحنث. (سورة ص) اولکه پيغمبرﷺ چی ديوه مريض غيرِ شادی شده دحد دزنا دجاري کولو دپاره کړی وه، قالوا ماراينا باحد من الناس من الضر مثل الذی هوبه لوحملنا اليك لتفسحت عظامه. ماهو الا جلد علی عظم، فامر رسول الله ﷺ ان ياخذوا له مأة شمراخ فيضربوه بها ضربة واحدة (رواه ابوداؤد ص ۲۱۴) اودا حيله جائزده، نه مخصوص ده اونه منسوخ ده اودغه مروی دی دعطاء اودشعبی څخه اودا مختاره کړيده احنافو اوشافعيه وو اوحنابله وو. البته دمالکيه وو او دسلفيانو په نزد مشروع نه ده، فليراجع الی

(c) ketabton.com: The Digital Library



تفسير القرطبي (ج ۱۵ ص ۲۱۳ وشرح الاشباه للحموی ص ۴۱۸ وفتح الباری ج ۱۲ ص ۲۷۵).
داحیله داسقاط لکه چی باصلها ثابته ده دارنگه فقهاء کرامو ددي په مشروعیت باندی تصریح کړیده، فلیراجع الي (رد المحتار ج ۱ ص ۲۸۷) والطحطاوی (ص ۲۲۳ والشرح الکبیرص ۴۹۷) وخلاصة الفتاوٰی (ج ۱ ص ۱۵۳) والبحر (ج ۲ ص ۹۱) والاشباه والنظائر (ص ۴۱۸) وغیر ذالك.
البته ددی حیلی دمشروعیت دپاره څه شرائط دی چی دهغوی رعایت ډیر ضروری دی: یوداچی دوصیت نه کولو په صورت کی به په وارثانوکی نابالغ اوغائب نه وی ددوی دمال څخه تبرع جائزنه ده دوهم داچی په قطار یادائره کی مساکین ناست وی. غني ته په ورکولو سره فراغت دذمی نه راځي، دریم داچی مساکین په رښتیا مالك کوی دوشتو اودزباني تملیك څخه ځان ساتي، کماصرح به ابن عابدین فی منة الجلیل ص ۲۲ حیث قال: ویجب ان یدفعها حقیقة لا تحیلا ملاحظا ان الفقیر اذا ابٰی عن الهبة الی الوصی کان له ذٰلك ولایجبر علی الهبة انتهٰی. نوکه داحیله په اشهر حج کی وسوه نو پردی ټولو قبض کونکو باندی به با قاعده حج فرض سی، بل چاته په بخشش سره به یې داحج دذمی څخه نه ساقطیږی.
او کله چی په حیله مروجه کي ددی شرائط خصوصًا ددریم

(c) ketabton.com: The Digital Library



شرط رعایت نه کیږي لهٰذا په دي حیلي مروجي سره دمړي دذمې فراغت نه راځي نوم یې حیله داسقاط ده اوپه حقیقت کې حیله داستحصال ده. پراهلِ علم باندي ضروري ده چي یاددي مفاسیدو اصلاح وکي اویا ددي حیلي انسداد وکي چي عوام دغلط فهمي اودخوش ظني ښخه وساتل سي.

**❻ شپږمه مقاله :**

په دي مقاله کي مسئله دتوسل ذکر کیږي.

په دي مقاله کي لس ۱۰ فصله دي:

۱. په **اول فصل** کي معاني دتوسل اودوسیلي ذکر کیږي.

**پوه سه** چي توسل، تقرب ته ویل کیږي کما اشیر الیه فی تفسیر ابن جریر (ج ۲ ص۱۴۲) اودوسیلي ډیري معناوي دي. وسیله، قربت، سوال محبت ته ویل کیږي (ابن جریر ج ۲ ص ۱۴۲) اوهغه شی ته ویل کیږي چي په هغه سره دالله ﷻ ته نژدیکت راځي چي کول دنیکو اوپرېښوول دبدو دي اوحاجت ته ویل کیږي (روح المعاني ج ۲ ص ۱۲۴) او (کشاف ج ۱ ص ۴۱۴) اوتقرب ته او دجنت یومنزل ته هم ویل کیږي (تفسیرِ مظهري.

( **لطیفه** ) په لغتِ عربي کي اطلاق دوسیلي پرالاتو باندي وارد دي، لیکن وسیله په حقیقت کي استعمال اوتحریك ددوي دي. په دي استعمال اوتحریك سره مقصودته رسایي کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲. په **دوهم فصل** کې اقسام دتوسل ذکر کیږي.
**پوه سه** چې توسل دوه قسمه دی، شرکي اوشرعي، شرکي دا دي چې يوشخص عبادت دغير الله ددي دپاره کوی چې داغير الله ددي شخص حاجات الله ﷻ ته نژدی کي په سورة زمر کي داذکر سويدی. الله ﷻ فرمايي: **مانعبدهم الا ليقربونا الى الله زلفى**. اوتوسل شرعي پر پنځه قسمه دی **اول** توسل دی په ايمان سره کمافي قوله تعالى: ربنا آمننا فاغفر لنا ذنوبنا (آلِ عمران). **دوهم** توسل دی په خپلو اعمالو سره دپاره دقضا دحاجاتو، لکه هغه دری کسانو اصحابِ غارچې کړی وو (بخاری شريف) **دريم** توسل دی په اعمال دغير سره دقضا دحاجاتو دپاره کمافي قوله تعالى: وکان ابوهما صالحا (سورة الكهف) وکما في قوله تعالى: وَالَّذِينَ آمَنُوا وَاتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّيَّتُهُمْ بِإِيمَانٍ أَلْحَقْنَا بِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ (سورة الطور) اولکه چې په دی حديث کې ذکر دی: من قرء القرآن وعمل بمافيه البس والداه تاجا يوم القيامة (رواه احمد وابوداؤد) اولکه چې په دی حديث کې ذکر سويدی: من قرء آية الکرسي حين ياخذ مضجعه آمنه الله على داره ودار جاره ودويرات حوله (رواه البيهقي بسند ضعيف) او **څلورم** توسل دی په دعاسره کماروی البخاری ان اعرابيا نادی رسول الله ﷺ ان يدعو لِسَقي امته، وکما روی الترمذی وابن ماجة. ان رجلا ضرير البصر اتي النبی ﷺ فقال ادع الله ان يعافيني.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پنځم** توسل دی په صالحینو سره. اودا پرڅلور قسمه دی:
**اول** توسل دی په اعمالو اوپه دعا دصالحینو سره. کما روی البخاری عن مصعب بن سعد رض مرفوعا: **هل** تنصرون وترزقون الا بضعفاء کم، وکما روي صاحب شرح السنة فی شرح السنة ان النبیﷺکان یستفتح بصعالیك المهاجرین.
**دوهم** توسل دی په شرکت دصالحینو سره. کمافی قول الله تعالی: وما کان الله لیعذبهم وانت فیهم وما کان الله معذبهم وهم یستغفرون (سورة الانفال) وکماروی البخاری ومسلم: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: یاتی علی الناس زمان فیغزو فئام من الناس فیقولون هل فیکم من صاحب رسول الله ﷺ، فیقولون نعم فیفتح لهم. الی آخر الحدیث وکما روی احمد یقول رسول الله ﷺ الابدال یکونون بالشام وهم اربعون رجلا. یسقی بهم الغیث وینتصر بهم علی العداء ویصرف بهم العذاب. وفی کنز العمال عن الطبراني وغیره مرفوعا ان الله لیدفع بالمسلم الصالح عن مائة من اهل بیت جیرانه. **دریم** توسل دی په محبت کولو دصالحینو سره. اودا قسم په حقیقت کی توسل دی په خپل عمل سره. او **څلورم** توسل دی په جاه او په مخ دصالحینو سره اوداپه حقیقت کی توسل دی په محبت کولو دالله جل جلاله ددوی سره کما روي البخاری ان عمر بن الخطاب رضی الله عنه توسل بعباس رضی الله عنه. وکما ذکر السدی ان اهل الکتاب یتوسلون بالنبی ﷺ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پوه سه** چي توسل په ذات دصالحينو سره جائز دی اوددی څخه مراد ذات من حيث الذات نه وی، ځکه چی په ذات دصالحينو اودغير صالحينو کي فرق نسته ددوی دواړو ذات انسان، اوحيوانِ ناطق دي بلکه مراد ورڅخه يو ددی څلورو اقسامو وی اوکله په يو ماده کي ډير اقسام موجود سی، يادا توسل وی په يوصفت دصفاتو دالله ﷻ سره لکه محبت کول دالله ﷻ سو ددوی سره.

۳. په **دريم فصل** کی آياتونه دتوسل ذکر کيږی. الله ﷻ فرمايی: وکانوا من قبل يستفتحون على الذين كفروا (سورة البقرة) ذكر السدى أنهم كانوا إذا أشتد الحرب بينهم وبين المشركين أخرجوا التوراة ووضعوا أيديهم على موضع ذكر النبي صلى الله تعالى عليه وسلم وقالوا: اللهم إنا نسألك بحق نبيك الذي وعدتنا أن تبعثه في آخر الزمان أن تنصرنا اليوم على عدونا فينصرون (روح المعاني ج ۱ ص۳۲۰) داتوسل دی په جاه اوپه محبت دصالحينو سره. اوالله ﷻ فرمايی: وماكان الله ليعذبهم وانت فيهم (سورة الانفال) داتوسل دی په شرکت دصالحينو سره اوالله ﷻ فرمايی: وكان ابوهما صالحا (سورة الكهف) داتوسل دی په نيکو اعمالو اوپه جاه دصالحينو سره او الله ﷻ فرمايی: وَالَّذِينَ آمَنُوا وَاتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّيَّتُهُمْ بِإِيمَانٍ أَلْحَقْنَا بِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ (سورة الطور) داتوسل دی په اعمالو اوپه قرابت

(c) ketabton.com: The Digital Library



دصالحینو سره اوالله ﷻ فرمايي: وابتغوا اليه الوسيلة (سورة المائدة) داتوسل دی په خپلو اعمالو اوطاعاتو سره.
**پوه سه** چي لکه څنګه چي توسل په طاعاتو سره منافي نه دي، دتوسط دمعلِم سره چي مورته تعليم دطاعاتو وکي، دارنګه توسل په اخلاص اوپه احسان سره په طاعاتو کي منافي نه دی دتوسط دمرشد سره چي مورته تعليم او ارشاد دطرُق داحسان اوداخلاص وکي. نوکله چي عبادات او اخلاص په دوی کي وسيله ده. اوتعليم دمعلم او ارشاد دمرشد وسيله ده دحصول ددی عباداتو او داخلاص دپاره نو وسيله دوسيلي به ضرور وسيله وی.
۴. په **څلورم فصل** کي احاديث دتوسل ذکر کيږي.
پيغمبر ﷺ فرمايي چي هغه درو کسانو چي په غار کي بند سوی وه،توسل وکي په خپلو اعمالو سره (رواه البخاری) او فرمايي: هل تنصرون وترزقون الا بضعفاء کم (رواه البخاری) اوحضرت عمر رضي الله عنه وفرمايل: اللهم إنا كنا نتوسل إليك بنبينا صلى الله عليه وسلم فتسقينا، وإنا نتوسل إليك بعم نبينا فاسقنا فيسقون. (رواه البخاری) دا توسل دی په شرکت دصالحينو سره اوپه دعا اوپه جاه دصالحينو سره.
(**سوال**) په ظاهره ددې حديث څخه معلوميږي چي توسل په امواتو سره نه صحيح کيږي.
(**جواب**) توسل په امواتو سره جائز دی لکه په سورةِ کهف

(c) ketabton.com: The Digital Library



کی راغلی دی چی الله ﷻ ددوو یتیمانو خزانه دنیك مړ پلار دوجی محفوظ ولرله اولکه په طبرانی صغیر اوکبیر اوبیهقي اونورو کي روایت دي، ان عثمان بن حنیف رضي الله عنه قال لرجل کان له حاجة الی عثمان بن عفان رضي الله عنه ان یاتوضا ثم یاتي المسجد ویصلي رکعتین ثم یقول اللهم انی اسئلك واتوجّه الیك بنبینا محمّد صلی الله علیه وسلم نبی الرحمة یامحمد انی توجهت بك الی ربی. اودحدیث دحضرت عمر رضي الله عنه څخه دري جوابه دی. **اول**: داچی په استسقاء کی شرکت دصالحینو مطلوب وی اودا قسم توسل په ژوندو سره کیږی، داmواتو شرکت زموږ دقدرت او دعلم څخه خارج دی، اودارنګه په استسقاء کی توسل په دعاسره مطلوب وی اودعا کول په امواتو زموږ دقدرت اودعلم څخه خارج دی. **دوهم**: جواب دادی چی په دی حدیث کي توسل په امواتو سره موجود دی. حضرت عمر رضي الله عنه وفرمایل: بعم نبینا، نوداپه حقیقت کی توسل دی په جاه اوپه وجه دپیغمبر ﷺ سره، **دریم**: جواب دادی چی مقصود دحضرت عمر رضي الله عنه تعلیم ددرو خبری وو چی توسل په مفضول سره جائز دی سره دوجوده دفاضل، نودا تواضع سوله واشار الیه العینی والعسقلانی فی شرح البخاری فلیراجع الی کتاب الاستسقاء.

**فائدة**: په دی حدیث دبخاری شریف کی اوپه حدیث دضریر البصر کي چی پیغمبر ﷺ ورته دا دعا وښوولـه: اللهم انی

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسالك واتوجه اليك بنبيك نبی الرحمة (رواه الترمذی وابن ماجة والبخاری فی تاريخه) واضح رد دی پر منکرينو دتوسل باندی.

**۵**. په **پنځم فصل** کې آثار دسلف صالحين ذکر کيږی په حق دتوسل کې.

**حضرت عمر** رضی الله عنه **توسل** وکی په **حضرت عباس** رضی الله عنه سره په استسقاء کې (رواه البخاری وغيره) اوتوسل وکی **حضرت معاويه** رضی الله عنه په يزيدبن الاسود رضی الله عنه سره په استسقاء کی (رواه ابن سعد فی طبقاته ج ۲ ص ۴۴۴) قال الحافظ ابن کثير فی البداية والنهاية (ج ۸ ص ۳۲۴) وهو مختلف فی صحبته. وکان اهل الشام يستسقون به وقد استسقی به معاوية والضحاك بن قيس، کان يمشی فی ضوء ابهامه فی الليلة المظلمة ذاهبا الی صلاة العشاء بالجامع بدمشق وآتيًا الی قريته. توفی سنة احدی وسبعين ۷۱ هـ. اوعثمان بن حنيف رضی الله عنه يوه حاجت مند سړی ته وويل چی توسل وکه په پيغمبر ﷺ سره، رواه الطبرانی فی الصغير والکبير اوبلال بن حارث مزنی رضی الله عنه توسل بالدعاء وکی چی قبر دپيغمبر ﷺ ته راغی اووی ويل: اِستَسقِ امتك (رواه البيهقی فی دلائل النبوة، والبخاری فی تاريخه وابن ابی شيبة فی مصنفه وذکر الزرقانی ج ۸ ص ۷۷ وابن عبد البر فی الاستيعاب ج ۲ ص ۴۲۴ والحافظ ابن حجر فی الفتح ج ۲ ص ۴۱۲)، او

(c) ketabton.com: The Digital Library



عائشه صدیقه رضی الله عنها اهل مدینه ته دقحط دلیری کیدو دپاره دا تدبیر ور وښووی چی دپیغمبر ﷺ پرقبر سربیره په چت کي مړ وکی. داعمل توسل سوپه متعلقات دپیغمبر ﷺ سره (رواه الدارمي فی مسنده ج ۱ ص ۲۳) اوخالد بن ولید رضی الله عنه به په غزواتوکي توسل عملی کوی په وریښتانو مبارکو دناصیه دپیغمبر ﷺ سره چی په توپی کی یې ایښی وه. (ذکر فی البدایة والنهایة ج ۷ ص ۱۱۳) اوسعد بن ابی وقاص اوخالدبن ولید رضی الله عنه توسل وکی په پیغمبر ﷺ سره، کمافی ازالة الخفاء (ج ۲ ص ۱۲۸) ان عمر بعث جندا الی مدائن کسریٰ واَمَّر علیهم سعدبن ابی وقاص وجعل قائد الجیش خالد بن الولید، فلما بلغوا شط الدجلة ولم یجدوا سفینة، تقدم سعد وخالد فقالا یابحر انك تجری بامر الله فبحرمة محمد ﷺ وبعدل عمر رضی الله عنه الا خلّیتنا والعبور، فعبر الجیش بخیله وجماله ورجاله الی مدائن ولم تبتل حوافرها.

۷. په **شپږم فصل** کی کلام دائمه اربعه وو ذکر کیږی په حق دتوسل کی:

امام عبد الوهاب شعرانی اونور دامام ابوحنیفه رحمة الله علیه څخه روایت کړی دی چی: اذا صح الحدیث فهو مذهبی. او په جواز دتوسل کی احادیث صحیحه غیر منسوخه ثابت دی لکه چی په فصل څلورم کی ذکر سوه.

او امام مالك رحمة الله علیه وویل منصور باچا ته: لم تَصرفُ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وجهك عن النبي صلى الله عليه وسلم وهو وسيلتك ووسيلة ابيك آدم عليه السلام الى الله تعالى. بل استقبله واستشفع به فيشفع الله فيك (نقله الخفاجي في شرح الشفآء ج ۳ ص ۳۹۸ وهكذا في المواهب اللدنية ووفآء الوفآء).

او امام شافعي رحمة الله عليه به توسل كوى په امام ابوحنيفه رحمة الله عليه سره، كما روى الخطيب البغدادى فى تاريخه ج ۱ ص ۱۲۳ بسندٍ صالحٍ ان الامام الشافعي يجيئ الى ضريح الامام ابى حنيفة يزوره فيسلم عليه ثم يتوسل الى الله تعالى فى قضآء حاجاته.

او امام احمد بن حنبل رحمة الله عليه به توسل كوى په پيغمبر صلى الله عليه وسلم سره، قال ابن مفلح في الفروع ج ۱ ص ۵۹۵ : يجوز التوسل بصالح، وقيل يستحب، قال احمد في منسكه الذى كتبه للمروزى انه يتوسل بالنبي صلى الله عليه وسلم في دعآءه وجزم به في المستوعب وغيره، وفي شواهد الحق ص ۱۶۶ : انه توسل الامام احمد بن حنبل بالامام الشافعي رضي الله عنه حتى تعجب ابنه عبد الله بن احمد بن حنبل من ذلك، فقال الامام احمد له ان الشافعي كالشمس للناس.

۷. په **اووم فصل** كى كلام دمشآئخو ذكر كيږى په حق دتوسل كى: ابن الهمام رحمة الله عليه فرمايي: ويسئل الله حاجته متوسلاً الي الله بحضرة نبيّه ثم قال يسأل النبى

(c) ketabton.com: The Digital Library



صلی الله علیه وسلم الشفاعة فیقول یارسول الله اسألك الشفاعة، یارسول الله التوسل بك الی الله (فتح القدیر ج ۲ ص ۳۳۷). او امام ترمذی په جامع ترمذی کې دتوسل باب عقد کړی دی، حیث قال باب ماجآء فی الاستفتاح بصعالیك المسلمین، ثم اخرج حدیث فانما ترزقون وتنصرون بضعفآءکم.

او امام غزالی رحمة الله علیه فرمایي: یقول الزآئر، اللهم قصدنا نبیك مستشفعین به الیك ذنوبنا وفی آخره ونسألك بمنزلته عندك وحقه علیك، (احیآء العلوم ج ۱ ص ۲۷۰).

او قاضی شوکانی په تحفة الذاکرین (ص ۱۲۲) کې فرمایي: وفی الحدیث حدیث عثمان بن حنیف دلیل علی جواز التوسل. اوپه تحفة الاحوذی شرح دترمذی (ج ۴ ص ۲۸۲) کې مسطور دی: قال الشوکانی فی رسالته الدرر النضید: ان التوسل به صلی الله علیه وسلم یکون فی حیاته وبعد موته، وفی حضرته وغیبته. اوحافظ ابنِ حجر رحمة الله علیه فرمایي، په حدیث دتوسل دعُمر رضی الله عنه کې په عباس رضی الله عنهما سره: یستفاد من قصة العباس استحباب الاستشفاع باهل الخیر والصلاح واهل بیت النبوة (فتح الباری ج ۲ ص ۴۹۷)، اودارنګه فرمایلی دی حافظ بدر الدین عینی رحمه الله په عمدة القاری کې په باب داستسقآء کې، او علامة آلوسی رحمه الله بغدادی په روح المعانی ج ۲ ص ۱۲۸ کې فرمایي: انا لانرٰی بأسًا فی التوسل الی

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله بجاه النبی صلی الله علیه وسلم عند الله حیا میتا، ویراد من الجاه معنی یرجع الی صفة من صفاته تعالی، مثل ان یراد به المحبة التامة المستدعیة عدم رده وقبول شفاعته، وقال العلامة بعد اسطر، بل لا رأی باسًا ایضًا بالاقسام علی الله تعالی بجاهه صلی الله علیه وسلم بهٰذا المعنی، ثم قال العلامة بعد اسطر: ان التوسل بجاه غیر النبی صلی الله علیه وسلم لا بأس به ایضًا، ان کان المتوسل بجاهه مما علم ان له جاهًا عند الله کالمقطوع بصلاحه وولایته (مثل عمران) واما من لاقطع فی حقه بذٰلك فلا یتوسل بجاهه (مثل الشیخ عبد القادر الجیلی) لما فیه من الحکم الضمنی علی الله تعالی بما لم یعلم تحققه منه عزّ شانه انتهٰی مافی روح المعانی. خلاصه دکلام دعلامه آلوسي داده چې توسل په پیغمبر اوپه هغه اولیاوو سره چې ولایت دهغوی قطعي وی، په وحې سره ثابت وی جآئز دي اوتوسل په هغه اولیاوو سره چې ولایت دهغوی قطعي نه وی، په وحې سره ثابت نه وی جآئزنه دی لیکن زموږ داکابرو دعلامه آلوسیؒ سره په دې کې اتفاق نسته، ځکه چې یوسړی په ظاهرکې مؤمن او مسلمان وی نودهغه سره نکاح جآئزه ده، په هغه پسې اقتدآء جآئز ده. جنازه وربانــدی جآئزده حالانکه دده ایمان اوولایت جزئي نه دی، په وحې سره ثابت نه دی نوچې یوسړی په ظاهر کې مؤمن وی، صالح وی، نوتوسل به ورسره هم جآئز وی ځکه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې له وحی څخه، نه دچاپه ایمان باندی جزم کیدی سی او نه دچا پـه صلاح اوولایت باندی جزم کیدی سی.
اوپه تالیفات دشاه ولیّ الله اودشاه عبد العزیـز رحمة الله علیهما کي په کثرت سره توسل موجود دی، اوشاه محمد اسحٰق په ماة مسآئل کی فرمايي: يجوز دعآء الاستفتاح بحرمة الشهر الحرام والمشعر الحرام وقبر نبيك ﷺ اوشاه اسماعيل رحمه الله په تقوية الايمان کی فرمايي: يجوز ان يقول اللهم انی اسالك بوسيلة فلان من الاوليآء، اوتصريح کړيده قطب الزمان حضرت مولانا رشيد احمد گنگوهی او حکيم الامت حضرت مولانا محمّد اشرف علی تهانوی، او شيخ الاسلام حضرت مولانا حسين احمد مدنی، اوشارح دابوداؤد حضرت مولانا خليل احمد انصاری مهاجر مدنی، اوشيخ الحديث والتفسير مولانا حسين علي مجددی، او امين الله فـي الارض شيخ الحديث حضرت مولانا نصير الـدين الغرغـشتوی رحمة الله علیهم پـه خپلو مكتوبـاتو او ملفوظـاتو اوتصنيفاتوکی پـه جواز دتوسل باندی، اوزما والد صاحب جامع المعقول والمنقول حضرت مولانا حبيب الله زروبوی به فرمايل چی دا طآئفه نجديه په خپله دبرکت اودجاه څخه خالي ده نودبل چا دپاره به يې هم نه منی، اومرشدنا امـام العلمآء والـصلحآء حضرت مولانا محمد عبد المالك صديقی رحمه الله تعـالی بـه سلسله مبارکـه لوستله اوپه هغه کي توسل موجود دی اوحضرت العلامه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شيخ الحديث مولانا عبد الحق رحمه الله تعالى به ډير وخت په دعا كې توسل كوى.

۸. په **اتم فصل** كې دتوسل څخه دانكار كوونكو دلآئل ذكر كيږي:

منكرين دتوسل كله تمسك كوى په قول دالله تعالى سره: مانعبدهم الاّ ليقربونا الى الله زلفى (سورة الزمر) اوكله تمسك كوى په قول دپيغمبر عليه الصلاة والسلام سره: انه لا يستغاث بى انما يستغاث بالله تعالى (طبرانى فى المعجم الكبير) اوكله تمسك كوى په اثر دحضرت عُمر رضي الله عنه سره چې توسل يې ونه كې په پيغمبر عليه الصلاة والسلام سره (بخارى شريف) اوكله تمسك كوى په قول دفقهاوو سره: كُرِهَ قوله بحق رسلك وانبيآءك اوبحق البيت لانه لاحق للخلق على الخالق (الدر المختار، كتاب الخطر والاباحة ، فصل البيع) اوكله اعتضاد حاصلوى په قول دعلامه آلوسى رح سره: واما اذا كان المطلوب منه ميتًا اوغآئبًا فلا يستريب عالم انه غير جآئز. وقال الآلوسى ايضًا: واما القسم على الله باحد من خلقه مثل ان يقال اللهم انى اقسم عليك او اسالك بفلان الاّ ما قضيتُ حاجتى فعن ابن السلام جواز ذٰلك فى النبى صلى الله عليه وسلم لانه سيد ولد آدم ولا يجوز ان يقسم على الله بغيره من الانبيآء والملآئكة والاوليآء، لانهم ليسوا فى درجته، ويرشح كلام المجد ابن تيمية بمنع التوسل بالذات، والقسم على الله باحد من

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلقه مطلقًا، وقال التاج السبکی: ویحسن التوسل والاستغاثة بالنبی صلی الله علیه وسلم الی ربه ولم ینکر ذٰلك احد من السلف والخلف حتٰی جآء ابن تیمیة فانکر ذٰلك، وقال العلامة الآلوسی ایضًا ردًا علی السبکی: وانت تعلم ان الادعیة الماثورة عن اهل البیت الطاهرین وغیرهم من الائمّة لیس فیها التوسل بالذات المکرمة، صلی الله علیه وسلم (روح المعانی ج ۲ ص ۱۲۵، ۱۲۲).

**فآئدة**: مسمٰی په ابن تیمیة سره درې اشخاص دی، اول ابو البرکات احمد تقی الدین دی، دی مشهوردی په ابنِ تیمة سره،نسب یې دادی احمدبن عبد الحلیم بن عبد السلام مجد الدین بن عبد الله بن ابی القاسم بن محمد بن خضر بن علی بن عبد الله بن تیمیة. دا ابنِ تیمة وفات سوی دی په سنه اوه سوه اته ویشت (۷۲۸) هجری کی. دوهم عبد السلام مجد الدین دی چی مؤلف دمنتقٰی دی، دا جد (نیکه) دی دمشهور ابنِ تیمیة وفات سوی دی په سنه شپږ سوه دوه پنځوس (۲۵۲) هجری کی، اودریم محمد فخر الدین دی چی وروردی دعبد الله بن ابی قاسم، اواکا دی دعبد السلام مجد الدین، اووفات سوی دی په سنه شپږ سوه دوه ویشت (۲۲۲) هجری کی. (البدایة والنهایة ج ۱۴ ص ۱۳۵، و ج ۱۳ ص ۱۸۵، و ص ۱۰۹).

۹. په **نهم فصل** کی دمنکرینو ددلآئلو جوابونه ذکر کیږي:

جواب دآیت دسورةِ زمر څخه دادی چی په دې آیت کی

(c) ketabton.com: The Digital Library



توسل شرکی ذکر سوی دی، عبادت دغیر الله شرك جلی دی. اوجواب دحدیث دطبرانی څخه دادی چی په سند دده کي ابن لهیعه راغلي دی اوپه تقریب التهذیب کي لیکل سوی دی چی کله چی دوه کتابونه وسوځیدل نوپرده باندی خلط راغي، بل جواب ورڅخه دادي چی داحدیث معارض دی داقوي سره، ددې حدیث دبخاری شریف سره: فبینماهم کذلك استغاثوا بآدم ثم بموسیٰ ثم بمحمّد صلی الله علیه وسلم (ج ۱ ص ۱۹۹) باب من سال الناس تکثراً نوحمل کیږی به حدیث دطبرانی پرباب دادب باندی لکه چی حدیث دبخاری: ما انا حملتکم ولکن الله حملکم محمول دی پرباب دادب مع الله باندی، اویابه حدیث دطبرانی حمل کیږی پرعزیمت باندی چی عزیمت دادی چی استغاثه وکړل سي په مسبب الاسباب سره. اوجواب داثر دحضرت عُمر رضی الله عنه په څلورم فصل کي تیرسو. اوجواب دعبارت ددر مختار دادی چی داقول چی: لاحقّ للخلق علی الخالق، معارض دی ددې حدیث دشیخینو سره: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم یامعاذ هل تدری ماحق الله علی عباده، وماحق العباد علی الله، په دې حدیث کی تصریح ده چی دمخلوق حق پرخالق باندی سته اودارنګه معارض دی دحدیث دطبرانی صغیر سره، رواه عن عمربن الخطاب رضی الله عنه مرفوعًا، وفیه فقال آدم علیه السلام اسالك بحق محمّد الاّ غفرتَ لی، اومعارض دی دحدیث دابنِ ماجه سره، وفیه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وبحق السآئلین علیك. نولابدی سوه دجمع اود تطبیق ځخه، هغه داده چې دحق دوې معناوی دی، یوه هغه واجب دی چې دفاعل څخه صادریږی اضطراراً، بې له ارادې څخه اوداسي واجب اوحق پرالله ﷻ باندی ممتنع دی په نزد داهلِ السنت والجماعت باندی خلافًا للمعتزلة اودوهم هغه واجب دی چې الله تعالی یې پرخپل ذات التزام کړی وی تفضّلاً، اوداحق پرالله ﷻ باندی ثابت دی په نصوصوکی، اویا ددرِ مختار عبارت محمول دی پرسد دباب دتوهم یعنی توسل په لفظ دحق سره که څه هم چې جآئزدی لیکن په کم مقام کی چې موهم داعتزال وی نو مکروه دی، لقوله علیه الصلاة والسلام اتقوا مواضع التهم، اخرجه البخاری فی تاریخه. اوجواب دعبارت دروح المعانی څخه دادی چې دعلامه آلوسیؒ صاحب دروح المعانی په نزد باندی توسل په انبیآء علیهم السلام سره اوپه هغه اولیاوو سره چې ولایت دهغوی منصوصي وی جآئز دی اوتاسی ناجآئز اوشرك ورته وایاست (فلیراجع الی ج ۲ ص ۱۲۸) البته دصاحب دروح المعانی سره زموږ مشآئخ په دوو مسآئلوکی موافقت نه کوی، یوداچی دصاحب دروح المعانی په نزد باندی توسل په هغه اولیاوو سره چې ولایت دهغوی منصوصی نه وی ناجآئز دی اوجواب ددې په اووم فصل کی ذکر سو، دوهم داچی دده په نزد طلب ددعا دغآئب څخه اودمړی څخه ناجآئزدی اوزموږ مشآئخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرمایي چې طلب ددعا دغائب څخه ناجائز دی اوطلب ددعا دمړي څخه دفنا دقبر څخه جائزدی په نزد دهغه چا چې په سماع الموتی باندی قائل وی اوعبث دی په نزد دهغه چاچې دسماع الموتی څخه منکر وی. اوتوسل په غائب اوپه میت دواړو سره جائزدی چې توسل په جاه اوپه عمل ددوی سره وی، ځکه چې دار اومدار ددې توسل پر استحضار اوپر تصور ددوی باندی دی اوپه دې کی څه بدی نسته، البته چې توسل په شرکت سره وی نو داپه حاضر اوژوندی سره کیږی نه په غائب اومیت سره.

۱۰. په **لسم فصل** کی مسئله داقسام ذکر کول کیږی:

**پوه سه** چې اقسام په الله ﷻ دې ته ویل کیږی چې لکه یوسړی ووایي چې زمادی قسم وی په الله ﷻ باندی چې نن به باران اوروی اودې ته همت اوعزیمت هم ویل کیږی اودا جائز دی، کماروی احمد عن ابی هریرة رضي الله عنه مرفوعًا: رُبَّ اشعثَ اغبر مدفوع بالابواب لو اقسم علی الله لاَ بَرَّه ای اقسم بالله علی الله،وروی البخاری والبزار معناه. او اقسام په غیر الله باندی ناجائز دی، کما روی الترمذی عن ابن عُمر مرفوعًا من حلف بغیر الله فقد کفر او اشرك، قلت: هو محمول علی التغلیظ، اواقسام په جاه دپیغمبر ﷺ سره لکه چې وارد دی په دلآئل الخیرات کی، ونقسم به علیك اذ هو اعظم من أُقسمَ بحقه علیك، دسلفِ صالحینو څخه ماثور نه دی لیکن جآئزدی ځکه چې داپه حقیقت کی

(c) ketabton.com: The Digital Library



توسل دی په یوه صفت دصفاتو دالله تعالی سره لکه دالله تعالی محبت کامله کول سوه دپیغمبر ﷺ ، اودا رایه دعلامه آلوسیؒ ده (کما فی روح المعانی ج ۶ ص ۱۲۸).
**پوه سه** چی توسل په ذوات فاضله سره جائزدی، البته داپه حقیقت اومآل کي توسل دي په یوه صفت دصفاتو دالله تعالی سره.

### ❼ اوومه مقاله :

په دې مقاله کی مسئله دسماع الموتی ذکر کیږی.
دسماع الموتی په اړوند په اهلِ علموکی اختلاف دی سلفًا خلفًا. حضرت ابوطلحه اوحضرت عمر اوحضرتِ ابنِ عُمر رضی الله عنهم روایت دسماع الموتی کړی دی دپیغمبر ﷺ څخه، کمافي مغازی صحیح البخاری او دارنګه عبدالله بن مسعود او عبدالله بن سیدان رضی الله عنهما روایت دسماع الموتی کړی دی دپیغمبر ﷺ څخه (کمافي فتح الباری ج ۷ ص ۳۰۳ عن الطبرانی) او حضرت عآئشه رضی الله عنها انکار کړیدی دسماع الموتی څخه او اثبات دعلم او ادراك یې کړیدی دموتی دپاره، کمافی مغازی صحیح البخاری او بعضی علمآء فرمایي چی عآئشه صدیقه رضی الله عنها رجوع کړیده دخپل قول څخه په دلیل دحدیث دامام احمد او دمحمد بن اسحاق سره دعآئشه صدیقه رضی الله عنها څخه چی په دې حدیث کی اثبات دسماع موجود دی په شان دحدیث

(c) ketabton.com: The Digital Library



دابو طلحه رضي الله عنهما (کمافی الفتح ج ۷ ص ۳۰۴) او په دليل دحديث دمسند دامام احمد سره دعائشه صديقه رضي الله عنها څخه. قالت: لما دفن عُمر معهم فوالله مادخلته الا وانا مشدودةٌ عليَّ ثيابي حيآءً من عمر. په دې حديث کې اثبات درؤيت دې دميت دپاره ، اوسماع مثل درؤيت ده اوپه دليل دحديث دترمذی سره چی عائشه صديقه رضي الله عنها مخاطبه وکړه دخپل ورور عبد الرحمٰن متوفّی سره (باب زيارة القبور للنسآء) نوکه مړی نه اوريدی نو مخاطبه به دده سره داسی وای لکه مخاطبه دمعدوم اودجماد سره.

اودارنګه ظاهر دکلام دقتادة څخه (احياهم الله حتّی اسمعهم قوله) کمافی مغازی صحيح البخاری دادی چی مړی نه اوری، ليکن دتابعي رايه داصحابو رضي الله عنهم رايی ته نه رسيږی. اودامام ابوحنيفه رحمة الله عليه څخه دسماع الموتٰی په باره کې روايت ثابت نه دې نه نفيًا اونه اثباتًا او چاچی ويلی دی چی امام ابوحنيفهؒ سماع الموتٰی نه منی نودا تخريج دی دمسئلې دکتاب الايمان څخه، ان من حلف لا يکلمه اقتصر علی الحياة فلو کلمه بعد موته لايحنث لان المقصود منه الافهام والموت ينافيه لانه لايسمع فلايفهم. اوچاچی ويلی دی چی امامِ ابوحنيفهؒ سماع الموتٰی نه منی نودا تخريج دی دکلام دامام ابوحنيفهؒ څخه چی: اذا صح الحديث فهو مذهبی. او مشآئخ دمذهبِ

(c) ketabton.com: The Digital Library



حنفي په دې مسئله کې مختلف دي، بعضې سماع الموتٰی مني اوبعضې يې نه مني، لکه ابن الهمام په شرح دهدايه کې په ابتدآء دکتاب الجنآئز کې دې ته اشاره کړيده. نوکه څوك سماع الموتٰی نه مني نودحنفيت څخه نه خارجيږی او ابـو يعلـي حنبلـي عـدمِ سـماع تـه تـرجيح ورکړيـده (روح المعـاني ج ۲۱ ص **۵۵**) اوفرقـه سـلفيه پـه سـماع الـموتٰی باندی قآئله ده. ابو البرکات ابـن تيميـه اوشمس ابـن القـيم په خپلو تصنيفاتو کی پـه دې تـصريح کړيـده (فليراجع الی اقتضآء الصراط المستقيم ص **۳۲۲** وکتـاب الـروح ص **۴** والنونية ص **۱۴۵** وغيرها) اوداما م بخاری ؒ اوابنِ جرير ؒ او ابنِ کثير ؒ اوامامِ سيوطی ؒ په نزد سماع الموتٰی ثابته ده.

او علامه آلوسی بغدادی ؒ هم په سماع الموتٰی باندی قآئـل دی، فرمـايي: والحق ان المـوتٰی يـسمعون فـي الجملـة،اما بان يخلق الله تعالی فی بعض اجزآء الميـت قـوةً يـسمع بهـا مثٰی ماشآء الله تعالی، واما بـان يکـون ذٰلـك الـسماع للروح بـلا وسـاطة قـوة فـی البـدن انتهٰـی (روح المعـانی ج ۲۱ ص **۵۷**) قلت: وفی الشق الثانی نظر وهو ان الروح بعـد المـوت فی عليين اوفی سجين مـثلاً وبُعـدهما مـن فنـآء القبـر ومـن سآئر المواضع سوآءٌ فيلزم جواز المخاطبة بالاموات من کل موضع. اللهـم الا ان يقـال ان الـتکلم مـن قـرب البـدن شـرط لسماع الروح، کمـا ان الـتکلم والـسماع عنـد الهـاتف شـرطٌ للسـماع.

(c) ketabton.com: The Digital Library



 څوك چې سماع الموتٰی نه مني نوددوی سره صریح حدیث نسته، نه قوي اونه ضعیف. دوی تمسك کوی په دې قول دالله ﷻ سره : فانك لاتسمع الموتٰی (سورة النمل) اوپه دې قول دالله ﷻ سره : وما انت بمسمع من في القبور (سورة الفاطر) چې په دوی کې نفي داسماع ده اونفي داسماع مستلزم ده دنفي دسماع دپاره. اوبعضي منکرین تمسك کوی په قول دالله ﷻ سره په حق دحضرتِ عُزیر عَلَیْهِ السَّلَام کې: قال کم لبثتَ قال لبثتُ یومًا او بعض یومٍ (سورة البقرة) چې حضرت عُزیر عَلَیْهِ السَّلَام نه اوازونه اوریدل اونه یې رڼاګانې لیدی کنې نو ویلی به یې وای چې ډیره موده مو تیره کړه او ممکنه ده چې دا منکرین قیاس وکې پربیده باندی چې بیده نه اوری لکه الله ﷻ فرمایي: فضربنا علٰی اٰذانهم في الکهف سنین عددًا (سورة الکهف) نومړیه په طریقِ اولٰی سره نه اوری.

اودا منکرین وایي چې په کمو احادیثوکې سماع الموتٰی ثابته ده نوهغه ظني دي اومعارض دي دقرآن سره، نوپه دوی کې به مناسب تاویل کول کیږي مثلاً چې دوی محمول دي پراول وخت داېښوولوپه قبر کې پر خصوصیت دپیغمبر ﷺ باندی.

اومثبتین دسماع الموتٰی استدلال کوی په ۱. حدیث دبخاری شریف سره: انه یَسمع خفق نعالهم. داحدیث واضح دلیل دی پرسماع دمُرده ګانو ددنیا څخه. اوپه دې حدیث

(c) ketabton.com: The Digital Library



کی نه احتمال دمعجزې سته اونه دکنایي سته. ۲. اودا رنګه مثبتین استدلال کوي په حدیث دبخاري شریف سره چې پیغمبر ﷺ په دریمه ورځ پر کناره دقلیب بدر ودریدی اودحضرت عمر رضی الله عنه په جواب کې یې وفرمایل: والذی نفس محمّد بیده ما انتم باسمع لما اقول منهم. داحدیث واضح دلیل دی پرسماع دمردګانو ددنیا څخه اوپه دې حدیث کې دا تاویل چې سماع خاص ده په اول وقت دوضع پوري نه جاري کیږي.

او جواب دآیتونو څخه دادی چې قرآن ساکت دی دسماع اودعدمِ سماع دموتی څخه اوصریح دی په نفی داسماع کې، لیکن دنفی داسماع څخه نفی دسماع نه لازمیږي، نه دملزوم څخه نفي نه نفي دلازم لازمیږي، اونه دنفي دمطاوع څخه نفي دمطاوع لازمیږي، اوکله چې دا آیتونه نازل سوي دي دپاره دتسلی دپیغمبر ﷺ چې ستاپه تذکیر سره که کفار راهیابي نه حاصلوي نو غمجن کیږه مه ، نوبنا پردې باندي مراد دموتی اودمن فی القبور څخه ژوندي کافردي چې مشابه دي دمردګانو سره ، اوپه تشبیه کې لابدي وي دامرِ جامع څخه چې موجودبه وي په مشبه اومشبه به دواړو کې، لیکن په مشبه به کې به اوضح یا اقوی وي، او په دې آیتونو کې امرِ جامع عدمِ سماع نسې کیدی داپه طرفینو کې موجود نه دی، نو امرِ جامع به عدمِ سماع نافعه اوعدم دانتفاع پر مسموع وي په دلیل دآخر طرف دآیت

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره، ان تسمع الا من يؤمن باٰيتنا وهم مسلمون. اوپه دې امرِ جامع کې نفی دمقيد راغلی ده اونفی دمقيد په عُرف کې راځي په نفي دقيد سره، اوپه لغت کې راځي په درو طريقو سره: په نفي دقيد سره، په نفي داصل اودمطلق سره، په نفي ددواړو سره، لکه نفي دغلام زيدٍ راځي په دې سره چې غلام دی ليکن دزيد نه دی بلکه دعمرو غلام دی، يادزيد مملوك دی ليکن غلام نه دی بلکه آس دی، يانه غلام دی اونه دزيد دی بلکه دعَمرو آس دی.

نو بناَء پردې قاعده باندی قرآن محتمل دسماع اوعدمِ سماع دواړو سو، مثّبتين دسماع به وايی چې نفی دمقيد راغلی ده په نفی دقيد سره چې په طرفينو کی سماع ستة ليکن انتفاع منتفی ده اومنکرين به وايی چې نفی دمقيد چې سماع نافعه ده راغلي ده په طرفينوکی، ليکن په طرف دمشبه کې نفي دمقيد راغلي ده په نفي دقيد سره اوپه طرف دمشبه به کې نفي دمقيد راغلي ده په نفي داصل اود مطلق سره ، اوپه دې قاعدې سره دا اعتراض ساقط سو چې عآئشه صديقه اوعُمر اوابنِ مسعود اوابو طلحه رضي الله عنهم ټول عرب دی نو اختلاف يې په فهم دقرآن کې څرنګه پيدا سو، پرهر حال چې قرآن محتمل سو نواحاديث معارض دقرآن سره نسول او تاويل ته حاجت پاته نسو.

اوجواب دقصې دحضرت عُزير عليه السلام څخه دادی چې دحضرتِ عُزير عليه السلام په لاعلمي ښکاره کولو کې دوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



احتماله دی، یوداچی نه ده څه اوریدل اونه یې څه لیدل، اودا بعید دی انبیآء علیهم السلام په برزخ کی اوپه قبوروکی ژوندي دی. بل احتمال دادی چی دا لاعلمي ښکاره کول دوجي دنسیان څخه وه چی طاري سوی وو په انتقا ل سره دحالت موت څخه حالت دحیات ته، لکه ددې نظیر موجود دی په سورة المؤمنین کی، قال کم لبثتم فی الارض عدد سنین ۞ قالوا لبثنا یومًا اوبعض یومٍ. اوحمل پر نسیان باندی قریب دی. پرانبیآء علیهم السلام باندی خطآء اونسیان طاري کیږي.

(**لطیفه**) په قرآنِ مجید کی دحضرتِ عُزیرعلیه السلام تر خارق العادة واقعې وروسته دحضرتِ ابراهیم خارق العادة واقعه ذکرده اوپه هغه کی ندآء راغلی ده هغو څلورو مارغانوته چی ټوټې ټوټې سوی دی. قال الله تعالی: ثم ادعهنّ یاتینك سعیًا. نوتعجب دی چی مړه مارغان اوري اومړ پیغمبر صلی الله علیه وسلم نه اوري.

اویو جواب دقیاس کولو څخه دمیت پر نآئم باندی دادی چی نآئم اوري ځکه چی آواز ورته وسی چی پورته سه نو پورته سی. بل جواب یې دادی چی کله سماع الموتٰی په حدیث سره ثابته سوه نو جواز دقیاس پاته نسو.

اوهغه احناف چی استخراج یې کړی دی دجزءیه دکتاب الاَیمان څخه، نو جواب یې دادی چی په دغه جزءیه پسی بله جزءیه ذکرده چی یوسړی قسم وکی: ان ضربتك فعبدی

(c) ketabton.com: The Digital Library



حرّ اوبیا وروسته ترمرګ یې ووهی نوداسړی نه حانث کیږی، اوفقهاوو ورته دلیل داویلی دی: لان الضرب اسم لفعل مولمٍ یتصل بالبدن، وایلام لایتحقق فی المیت. کمافي الهدایة نولکه څنګه چی ددې جزءیې څخه دا استخراج غلط دی چی امام ابوحنیفه رحمة الله علیه عذاب دقبر نه منی، نودارنګه داولی جزءیې څخه دا استخراج غلط دی چی مړی نه اوری، بلکه ویل کیږی به چی دار او مدار دأیمانو پر عُرف باندی دی، اوپه عُرف کی مړی قابل دایلام نه دی نودا سړی به نه حانث کیږی. اوپه شرع کی قابل دایلام دی، الله جل جلاله په ده کی یوه نوعه دحیات ایږدی چی په هغې سره ادراك دعذاب کوی اودارنګه په عُرف کی مړی قابل دفهم اوداجابت نه دی، نودا سړی به نه حانث کیږی اوپه شرع کی قابل دفهم اوداجابت دی، الله جل جلاله په ده کی یوه نوعه دحیات ایږدی چی په هغې سره فهم دکلام دملائکو اودزآئرینو اونورو کوی اواجابت کوی جواب ورکوی.

**فآئده**: سماع الموتی په اول وقت دوضع پوری خاص نه ده په دلیل دحدیث مرفوع دابن عباس رضی الله عنهما سره : مامن احدٍ یمر بقبر اخیه لمسلمٍ کان یعرفه فی الدنیا فیسلم علیه الاّ ردّ الله علیه روحه حتی یردّ علیه السلام. ذکر ابن عبد البر وصححه کمافی اقتضآء الصراط المستقیم لابن تیمیة. وما قال الحافظ ابن رجب الحنبلی انه ضعیف بل

(c) ketabton.com: The Digital Library



منکر، فلا يقاوم قول الاکثرين. اوپه دليل دحديث مرفوع دابن عَمرو رضي الله عنهما سره، اخرجه الطبراني في الاوسط وفيه لايسلّم عليه احدٌ الاّ ردوا عليه الى يوم القيامة. اوپه دليل دحديث مرفوع دابي هريرة رضي الله عنه سره، اخرجه الحاکم وصححه البيهقي، وفيه لا يسلم احد الاّ ردّوا عليه الى يوم القيامة، کمافى شرح الصدور للسيوطى في باب زيارة القبور ص ۸۴ او ۸۵. اوپه دليل ددې سره چې که څه هم روح بدن ته په اول وقت دوضع کې اعاده کولی سی ليکن په احاديثو سره دوضع څخه قبل هم دامواتو کلام وغيره ثابت دی، کما اخرج الشيخان عن ابي سعيد الخدری رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم اذاوضعت الجنازة واحتملها الرجال على اعناقهم فانکانت صالحةً قالت قدّموني، وان کانت غير صالحةً قالت ياويلها اين تذهبون بها يسمع صوتها کل شيءٍ الا الانسان، فلو سمعه الانسان لصعق، نوددې څخه معلومه سوه چې په امواتو کې يوه نوعه دحيات ابتدآءً موجوده ده، داعادې دروح په وقت پورې خاص نه دی.

### ❽ اتمه مقاله :

په دې مقاله کې مسئله داجرت پرختم دقرآن باندی ذکر کيږی.

**يوه سه** چې پر دَم (رقيه) باندی اخرت اخيستل جآئز دی. په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلیل د حدیث دابوسعید خدری رضی الله عنه سره، چی یوحربی کافر چی لړم چیچلی وو، په سورة فاتحه سره یې دم کی اوکم اجرت چی یې ورسره مخکې مقرر کړی وو هغه یې ورڅخه واخیستې، اوپیغمبر علیه السلام چی خبرسو نودده تحسین یې وکی، اووې فرمایل: قد اصبتم. اودا اجرت یې حلا ل طیب وګرزوی اووې فرمایل: اقسموا لی واضربوا لی معکم سهماً، رواه البخاری ج ۱ ص ۳۰۴. اوپه بل روایت دبخاری شریف (ج ۲ ص ۸۵۴) کی دا الفاظ وارد دی: انّ احقّ ما اخذتم علیه اجراً کتاب الله. اوددې روایت څخه داهم معلومه سوه چی حلالوالی ددې مال ددې وجی راغلی دی چی دا اجرت دی، نه ددې وجی چی دامال دحربی دی، اوامام طحاوی په کتاب الاجارات کی فرمایي: وکذٰلك نقول نحن ایضاً لاباس بالاستیجار علی الرقٰی والعلاجات کلها وان کنا نعلم ان المستاجر علٰی ذٰلك قد یدخل فی ما یرقٰی به بعضَ القرآن (شرح معانی الآثار ج ۲ ص ۲۲۳). اوعلامه بدر الدین عینی په عمدة القاری کی په شرح دحدیث دابوسعید خدری رضی الله عنه کی په حواله دقرطبی سره فرمایي: چی داجواز مذهب دامام ابوحنیفه رحمة الله علیه هم دی (عینی ج ۱۲ ص ۹۵).

**پوه سه** چی لکه څنګه چی قرآن ددَم اورقیه په اراده باندی ویل او اجرت وربانذی اخیستل جائزدی، څکه چی په دې کی ثواب مقصودنه وی بلکه یو دنیوی مقصد حاصلیدل

(c) ketabton.com: The Digital Library



مقصود وی نودغه ډول په دعوه کی دکامیابۍ دپاره او دکور دمبارك کیدو دپاره اودنورو جآئزو مقاصدو دپاره ختم کول اوپه هغه باندی اجرت اخیستل به هم جآئز وی، په دې کې ثواب مقصودنه وی بلکه یودنیوی مقصد حاصلیدل مقصود وی.

**پوه سه** چی دایصالِ ثواب دپاره ختم کول جآئز دی اودې ختم کوونکې ته په طور داکرام اوپه طور دتصدق مال ورکول هم جآئز دی. لیکن پردې ختم باندی اجرت اخیستل مختلف فیه دی، بعضی فقهآء فرمايي: چی جواب اصح دی کمافی الهداية ج ۴ ص ۴۲۱، واختلفوافی الاستیجار علی القبر مدة معلومة قال بعضهم لایجوز وقال بعضهم یجوز وهو المختار کذا فی السراج الوهاج، وکمافی وقف البحر ج ۵ ص ۲۲۸: فان المفتٰی به جواز الاخذ علی القرآءة، وکما في رد المحتار في الاجارة الفاسدة عن الجوهرة واختلفوا في الاستیجار على قرآءة القرآن مدة معلومة قال بعضهم لایجوز، وقال بعضهم یجوز وهو المختار انتهٰی. اوبعضی فقهآءؒ په عدم دجواز قآئله دی کمافی حاشية البحر ج ۵ ص ۲۲۸: عن الرملی، اقول المفتٰی به جواز الاخذ استحسانًا علی تعلیم القرآن لا علی القرآءة المجردة کما صرح به فی التتارخانية وفی رد المحتار ج ۲ ص ۵۲، قال العینی فی شرح الهداية، ویمنع

(c) ketabton.com: The Digital Library



القاری للدنیا والاخذ والمعطی آثمان. اوکله چی دقاری دپاره ثواب نسته نوچاته به څه ایصالِ ثواب وکی.
نوکله چی ددې اجرت په اړوند په حِل اوپه حرمت کی اختلاف دی نوحرمت ته به ترجیح ورکول کیږی، که څه هم چی تطبیق بې هم کیدی سی چی ددې اجارې تقیید راسی په یوه مکان پوری نواجرت اخیستل جآئز دی، اوکه تقییدیې نه وی راغلی نو ناجآئز دی.
**پوه سه** چی په رمضان کی حافظ په تراویحو کی ختم دقرآن وکی اوده ته څه مال ورکول کیږی نوددې ورکول او اخیستل جآئزدی، ځکه چی دا مال حافظ ته په طور داکرام ورکول کیږی، دا اکرامِ معروفه دی نه اجرتِ معروفه، لکه په حدیث دانس رضي الله عنه کی: ان رجلاً من کلاب سال النبی صلی الله علیه وسلم عن عسب الفحل، فنهاه فقال یا رسول الله انا نُطرق الفحل فنکرَم، فرخّص له فی الکرامة (رواه الترمذی) دې تفرقې ته اشاره سوېده.
اوکه دامال اجرت سی نواکثره اکابر فرمایي: چی دا اجرت دی پر تلاوت باندی اونا جآئزدی اوبعضی اکابر فرمایي: چی اجرت هم جآئزدی، دا اجرت دی پر امامتِ مسنونه باندی، نه پرمجرد امامت باندی اونه پر مجردِ تلاوت او ختم باندی، که داحافظ په رمضان کی په مسجد ددې محله کی خارج دلمانځه څخه ختم وکی نومستحق ددې اجرت نسي شمېرل کیدی. داحافظ هلته مستحق داجرت

(c) ketabton.com: The Digital Library



شمېرل کیدی سی چی دامسنون لمونځ په مسنونې طریقې سره ادا کړی لکه چی دجُمعې دورځی پر امام داقید اېښوول کيږی چی دسهار په لمانځه کې به سورة آلم تنزیل او سورةِ دهر وايي اودجمعې په لمانځه کې به سورةِ اعلی او سورةِ غاشیه وايي.

**❾ نهمه مقاله :**

په دې مقاله کی داهلِ میت دطرف داطعام مسئله ذکر کيږی.

۱. داهلِ میت دطرفه تصدق علی المساکین هروخت جآئز دی چی په وارثانو کی نابالغ اوغآئب نه وی کمافی الهندیة ج ۵ ص ۳۴۴: وان اتخذ طعامًا للفقرآء کان حسنًا اذا کانت الورثة بالغین. فان کان فی الورثة صغیر لم یتخذوا ذٰلك من الترکة، کذافي التتارخانیة. ۲. اوداهلِ میت دطرفه پابندی درسم او رواج هروخت ناجآئز ده کما فی البزازیة علی هامش الهندیة ج ۴ ص ۸۱، ویکره اتخاذ الطعام فی الیوم الاول والثالث وبعد الاسبوع والاعیاد، وفی جنآئز رد المحتار عن المعراج قال هٰذه الافعال کلها للسمعة والریآء فیتحرز عنهما لانهم لایریدون بها وجه الله تعالی. ۳. اوداهلِ میت دطرفه ضیافت اودعوت تردرو ورځو پوری منع دي يعني دا کار منع دی. خوړل یې منع دی، کما فی الهندیة ج ۵ ص ۳۴۴: ولا یباح اتخاذ

(c) ketabton.com: The Digital Library



الضیافة ثلاثة ایام المصیبة، واذا اتخذ لاباس بالاکل منه کذافی خزانة المفتیین. البته خواص به دخوړلو څخه ځان ساتي، که خواص دخوړلو څخه منع نسي نو عوام به دپخولو څخه منع نسي. ۴. اوداهلِ میت دطرفه طعام دحاجت اودضرورت جآئزدی مثلاً چی داهلِ میت تعلق دارنه وی، یابې مروّته وی، اودطعام دخرید اوفروخت څه انتظام نه وی اودغه محمل دی داثر دابوذر رضی الله عنه چی ده وصیت وکی چی زما میلمنوته به پسه ذبح کوی (کما فی البدایة والنهایة ج ۷ ص ۱۲۵).

بعضی فقهآء فرمایی چی داهلِ میت دطرفه دعوت او ضیافت جآئزدی په دلیل دحدیث دابوداؤد شریف سره: فلما رجع صلی الله علیه وسلم استقبله داعی امرءته فجاء فجیئ بالطعام فوضع یده الی آخر الحدیث چی پیغمبر ﷺ داهلِ میت دطرفه دعوت قبول کی، او اراده دخوړلو یې وکړه. لیکن چی معلومه سوه چی داشاة بې له اجازې دمالکه ذبح سوی دی نو خوراك یې ورڅخه ونه کی (رواه ابوداؤد فی باب الشبهات من کتاب البیوع) لیکن نورو فقهاوو ددې سره موافقت نه دی کړی ځکه چی په حدیث کی دوې نسخې دی یوه نسخه (داعی امرءة) ده بې له اضافته، اودانسخه صحیح ده اوپه دې نسخه باندی استدلال ددې بعضی فقهاوو نه صحیح کیږی، اوبله نسخه (داعي امرءته) ده، په اضافت سره (داعي دښځې دمړی) نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا استدلال دده صحیح سو، لیکن داحدیث معارض دی دحدیث دابن ماجه اودمسند دامام احمد سره چی روایت یې کړی دی دجریر رضي الله عنه څخه، کنا نعد الاجتماع الی اهل المیت وضعهم الطعام من النیاحة. اودا حدیث قول دی اومحرّم دی، اوتشریع عام ده، نوراجح به ګرځی پر حدیث دابوداؤد باندی چی فعل دی اومبیح دی اوجزئی واقعه ده، اویا حدیث دابوداؤد په حمل کیږی پرطعام دحاجت باندی، اودارنګه حدیث دعآئشه صدیقه رضي الله عنها : انها کانت اذا مات المیت من اهلها فاجتمع لذٰلك النسآء ثم تفرقن الاّ اهلها وخاصّتها ، امرت ببرمة من تلبینة فطبخت ثم صنع ثرید فصبت التلبینة علیها قالت کلن منها فانی سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول: التلبینة مجِمّة لفواد المریض تذهب ببعض الحزن (رواه البخاری ج ۲ ص ۸۱۵) محمول دی پرطعام دحاجت باندی چی دکور خلګ یې وخوری، اودطبیعت څخه یې درونږوالی کم سی.

## ⑩ لسمه مقاله :

په دې مقاله دبخاری شریف دآخری باب تشریح کول کیږی:

بسم الله الرحمٰن الرحیم

اَلْحَمْدُ للهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ. والصلاة والسلام علی سیدنا خیر خلقه محمد وعلی آله واصحابه واتباعه اجمعین.

**امابعد**: فان اصدق الحدیث کتاب الله واحسن الهَدیِ هدی محمد

(c) ketabton.com: The Digital Library



صلی الله علیه وسلم وشرَّ الامور محدَثاتها وکلّ محدثةٍ بدعة ، وكــل بدعةٍ ضلالة، وکل ضلالةٍ فی النار، وبالسند المتصل منا الـــی شــيخ الاسلام والمسلمين امير المؤمنين فی الحديث ابی عبـــد الله محمَّـــد بـــن اسماعيل بن ابراهيم بن المغيرة بن بَرْدِزْبة البخاری الجعفي اليمانی رضي الله تعالٰی عنه ونفعنا الله بعلومه آمين. قال:

باب قول الله تعالٰی ونضع الموازين القسط ليوم القيامة وأن أعمـــال بني أدم وقولَهم يوزن. وقال مجاهد: القسطاس العدل بالروميَّة، ويقال: القسط مصدر المقسط وهو العادل، وأما القاسط فهو الجائر. حـــدثنا أحمد بن إشكاب حدثنا محمد بن فضيل، عن عمارة بن القعقاع، عـــن أبي زرعة، عن أبي هريرة رضي الله تعالٰی عنه وعنهم قال قـــال الـــنبي صلی الله عليه وسلم كلمتان حبيبتان إلى الـــرحمن، خفيفتـــان علـــی اللسان، ثقيلتان في الميزان سبحان الله وبحمده، سبحان الله العظيم.

امامِ بخاری رحمة الله علیه په صحيح بخاری کی درې اتيا ۸۳ کتابونـه راوړی دي اوکتـاب الـرد علـی الجهميـة وغيـرهم التوحيد، آخری کتاب دی، اودرې زره اته سوه شپږ شپيته ۳۸۶۶ بابونــه يــې راوړی دي اودا بــاب آخــری بــاب دی. اونهـه زره يـوکم اتيـا ۹۰۷۹ احاديـث يې راوړی دی، اودا حديث آخری حديث دی، پـه دې آخری باب اوآخری حديث کې ډير مباحث دی، زه به ورڅخه لس ۱۰ مباحث ذکر کوم په طريقې دانتخاب سره، هغه لس مباحث دادی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱**. غرض اومقصد دامام بخاري رحمة الله علیه دعقد کولو څخه ددې باب. **۲**. مناسبت ددې باب دسابق باب سره وهو باب قرآءة الفاجر والمنافق واصواتهم وتلاوتهم لايجاوز حناجرهم **۳**. مناسبت ددې باب دکتاب الرد علی الجهمية وغيرهم التوحيد سره **۴**. مناسبت ددې باب داول باب دصحيح بخاري سره، وهو کيف کان بدء الوحي الی رسول الله صلی الله عليه وسلم **۵**. تشريح دترجمة الباب **۶**. لطآئف ددې سند **۷**. مناسبت ددې حديث دترجمة الباب سره **۸**. تشريح دحديث **۹**. مسآئلِ مستنبطه ددې حديث **۱۰**. براعة الاختتام.

۱. **اوّل مبحث**: غرض دامام بخاري رح دعقد کولو څخه ددې باب رد دی پربعضو فرقو باندی چی انکار کوی دوزن اودميزان څخه، هغه معتزله دی، دمعتزله وو دا اصول دی چی دعقل اووحي تعارض راسي نوعقل مقدم کوی پروحی باندی اوپه ظاهره وزن داعمالو اوداقوالو معارض دی دعقل سره ځکه چی وزن دموجوداتو کول کيږی اواعراض وروسته تروجود معدوم سی اواعاده دمعدوم محاله ده، اووزن دهغه موجوداتو کول کيږی چی قآئم بنفسها وی، اودا اعراض که اعاده يې بالفرض وسی نوقآئم بغيرها به وی،اوبيا وزن دهغه قآئم بنفسها کول کيږی چی دقبيلې څخه دهغو اجسامو وی چی څه ناڅه ثقل اودروندوالی لری.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جواب ددې دليل دادی چې وزن داعراضو ممکن فی نفسه دی ځکه چې دتحقق دده ځخه محالل فی ذاته نه لازميږی. اوهر ممکن چې اخبار ورڅخه وسي په وحي کي نووقوع دده حق وی، تاويل ته محتاجه نه وی، نهايت داچی تفيض الي الله يې وکړل سی، نه انکار اوتحريف.

۲. **دوهم مبحث**: لکه په تير باب کی چی امام بخاریؒ فرق کړی وو په مابينځ دمتلو اودتلاوت کی، چی متلو قديم دی اوتلاوت حادث دی اودايې رد کړی وو پر حنابله وو باندی، اودارنګه رد يې کړی وو پرهغه چاچی قآئل دی پراتحاد دتلاوت اودمتلو باندی، نودغه رنګه امام بخاری په موجوده باب کی ردوکی پر معتزله وو باندی.

۳. **دريم مبحث**: په دې باب کی رد دی پر غيرِ جهميه وو باندی، په دې آخری کتاب کي امام بخاریؒ دالهيات اونورو مسآئل ذکر کوی اورد کوی پر هغه فرقو باندی چی دعوه داسلام کوی اوپه زيغ کي مبتلا سوی وی.

۴. **څلورم مبحث**: مناسبت ددې باب داوّل باب داول حديث سره دادی چی په اول باب کی امامِ بخاریؒ دا اشاره وکړه چی دمشروعيت دار او مدار پر انتساب باندی دی وحی ته عبارت دوحی ته يا اشارت او اقتضآء او دلالت او اعتبار دوحی ته. اودار اومدار داِثابت پرحُسنِ نيت او لِلهيت باندی دی. اوکم اعمال اونور چی حُسنِ نيت پکښی موجود وی نوددوی پرثواب باندی دباطليدو خطره وی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي په دنيا کې په منّ اواذٰی سره، او په آخرت کې د حقوق العباد په معاوضه کې په ورکولو سره کالعدم سی نو چې وزن يې وسي نو امن يې راسي د باطليدو او د کالعدم کيدلو څخه.

بل مناسبت يې دادی چې اوّل حالت داعمال نسبت دی وحی ته، او آخری حالت يې وزن دی. بل مناسبت يې دادی چې دار او مدار دثقل په وزن کې دوه دی يو اخلاص او لِلهيت دوهم عظمت درتبې ديوه قول يا دعمل، په اول حديث کې اول مذکور دی او په آخری حديث کې آخری مذکور دی.

**۵. پنځم مبحث**: تشريح دترجمة الباب داده چې واضع دميزان الله ﷻ دی (قرآن) اوصاحب دميزان، سرپرست يې حضرت جبرآئيل عليه السلام دی کما في القسطلاني عن حذيفة رضي الله عنه موقوفًا. اووزن کوونکی حضرت عزرآئيل عليه السلام دی، کما في البيهقي عن انس رضي الله عنه مرفوعًا، اودا وزن به په نګرانۍ دحضرتِ آدم عليه السلام کې کيږي، روه الطبراني في المعجم الصغير مرفوعًا، که څوک اعتراض وکړي چې موازين جمع ده، اوقسط مفرد دی، جوابونه يې دوه دی، يوداچې قسط په اصل کې مصدر دی. واحد اوجمع پکښې برابردی. دوهم داچې مضاف پکښې مقدر دی ای ذوات القسط.

**پوه سه** چې د ظاهر د قرآن څخه دا معلوميږي چې تلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



(ترازوګان) ډیری دی، دمختلفو موزوناتو دتللو دپاره جلا جلا تله ده ددنیا دتلو په شان، لیکن اکثره مشآئخ فرمایی چی تله یوه ده اوتعبیر ورڅخه سوی دی په صیغې دجمع سره دتفخیم اوعظمت دپاره، یادوجی دتعدد دانواعو دموزوناتو اودانواعو دبندګانو.

قوله وان اعمال بنی آدم ......الی آخره. ظاهر دادي چی دهرچا اعمال او اقوال به تلل کیږی. استثنآء پکښی نسته، لیکن محققین فرمایی چی ددې څخه هغه کسان مستثنٰی دی چی بې حسابه به جنت ته ځی، او دغه رنګه هغه کفار ورڅخه مستثنٰی دی چی نه یې نیکی کړی وی اونه یې ماسوا دکفر څخه بدی کړی وی.

**پوه سه** چی کیفیت دوزن یادادی چی تجسّد اوتمثّل به راسی په دې اعمالو او اقوالو کی، کماهو مرویٌ عن ابن عباس رضی الله عنهما، اویا دادی چی عمل نامې به تلل کیږی، کما یشیر الیه ما رواه الترمذی مرفوعًا من حدیث عبدالله بن عمرو بن العاص رضی الله عنه من ثقل البطاقة علی تسعة وتسعین سجلاً. او یادادی چی کله چی دانسان ایجاد سوی تلې، حرارت اوتیزی او بلندی اونور اعراض تلې نوکه دا الهی تله اعراض وتلې نوپه دې کی څه استبعاد نسته، پوه سه چی حکمت په وزن کی اظهار دقدرت دی، او اتمام دحجت دی پر بندګانو باندی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پوه سه** چی امامِ زرکشی ؒ دبعضو علماوو څخه روایت کړی دی چی رجحان اوثقل دوزن په آخرت کی برعکس ددنیا درجحان اودثقل دی، په آخرت کي به ثقل راځی په لوړیدو سره اوخفت به راځی په کښته کیدو سره، او استنادیې کړی دی په دې قول دالله تعالی سره: الیه یصعد الکلم الطیب. یعنی په قبولو سوو کلماتو کی صعود راځی، او استناد یې کړی دی په دې قول دالله تعالی سره: ولکنه اخلد الی الارض، یعنی په غیرو قبول سوو کلماتو او اعمالوکی مځکی ته میلان موجود وی. اوقسطلانی پردې رد کړی دی، حیث قال هو غریبٌ مصادمٌ لقوله تعالی: واما من ثقلت موازینه ای لم یقل واما من صعدت موازینه، اودارنګه داتوجیه مخالفه ده داصلِ مسلّم څخه، وهو ان النصوص تحمل علی ظواهرها مالم یمنع مانعٌ.

قوله بالرومیة. امام بخاری ؒ آیت دسورةِ بنی اسرآئیل ته اشاره وکړه دمناسبت دآیت دسورةِ انبیآء دوجی څخه، او پردې قول دمجاهد باندی که څوك اعتراض وکړی چی الله تعالی فرمایی: انا انزلنٰه قرآنًا عربیًا، چی قرآن په عربي کی نازل سوی دی نورومي ژبه څنګه پکښی راغله، جوابونه یې درې دې: ۱. اول داچی اعتبار دغالب دپاره دی نه دنادر دپاره. ۲. دوهم دادی چی مراد دآیت دادی چی طرز او طریقه یې عربی ده، داعراب ترکیب اوقواعد پکښی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دعربیّت مطابق جاري کیږي، **۳**. دریم دادی چی دلته توافق دلغتینو راغلی دی. قسطاط په عربی کی هم عدل ته ویل کیږي، امامِ راغبؒ فرمایي چی قسطاس میزان ته ویل کیږي، اوتعبیر په ده سره کول کیږي دعدالت څخه.

قوله: ويقال القسط مصدر المقسط : **پوه سه** چی صاحب دقاموس فرمایي چی قِسط په کسرې دقاف سره عدل ته ویل کیږي په شان داقساط، اوحصې ته، او رزق ته اومیزان ته هم ویل کیږي، اوامام راغبؒ فرمایي چی قسط په کسرې دقاف سره: ان یاخذ نصیب غیره، یعنی جور ته هم ویل کیږي، او اقساط: ان یعطي قسط غیره، وذلك انصافٌ یقال قسط الرجل اذا جار واقسط الرجل اذا عدل. نو قسط عدل او جور دواړو ته ویل کیږي. او قَسَط په فتحې دقاف سره اعوجاج في الرجلین ته ویل کیږي (مفرداتِ امامِ راغبؒ) او جورته ویل کیږي. او زجاج فرمایي چی ثلاثي په معنی درباعی سره راغلي دی قَسَطَ الرجل او اَقْسَطَ الرجل په معنی د عدل الرجل وارد دی لیکن کم دي او مشهور دادی چی دقَسَطَ الرجل معنی جار الرجل ده. اود اقسَطَ معنی عدل ده. پرهر حال قَسَطَ په معنی د عَدَلَ سره قلیل اونادر دی.

که څوك سوال وکی چی قسط مصدر دمقسط نه دی بلکه اقساط مصدر دمقسط دی، جوابونه یې دوه دی، یو جواب داچی مراد ددې قآئل دادی چی قِسط ماخذ داقساط دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا مرادیې دادی چی قسط مصدر دی په حذف دزوآئدو سره، بل جواب دادی چی مراد ددې قآئل دادی چی قسط اسم مصدر دی په معنٰی داقساط سره لکه چی دقاموس په کلام کی ذکر سوه چی قسط په معنی داقساط سره راځی، اودارنګه دزجاج دکلام څخه هم معلومه سوه.

قوله: واما القاسط فهو الجآئر. امام بخاریؒ لفظ دقاسط چی په آیت: واما القاسطون فکانوا لجهنم حطبًا (سورة الجن) کی راغلی دی دقسط دمناسبت دوجی ذکرکی، یعنی دقاسط معنٰی جآئرده، چی ماخوذ دقسط څخه سی په فتحې دقاف سره، اودارنګه چی ماخوذ دقسط څخه سی په کسرې دقاف سره لکه چی مخکی تیر سوه.

**شپږم مبحث**: **پوه سه** چی دا حدیث غریب دی په شان داول حدیث دبخاری شریف، احمد بن اشکاب په کسرې دهمزه سره، اوفتحه هم جآئز ده، اودا لفظ غیرِ منصرف دی اوبعضې وایي چی منصرف دي او عدمِ دانصراف یې بنآء دي پرعجمة اوپر معرفة باندی برابره خبره ده که په کسرې دهمزه سره سی اوکه په فتحې سره سی اوهغه تانیث معنوی چی حاصل سوی وی په تاویل دجماعت سره غیرِ مؤثر وی، کما صرحوا به.

عن ابی زرعة ، په زآء سره. پوه سه چی حافظ ابنِ حجر رحمة الله علیه په تقریب التهذیب کی پنځه ابو زرعه ذکر کړی دی، یوبجلی کوفی دی چی په دې سند کي ذکر دی، دده

(c) ketabton.com: The Digital Library



په نوم کی اختلاف دی، بعضی وایی چی نوم دده هرم دی اوبعضی وایی نوم دده عَمرو دی، وغیر ذٰلك. دوهم دمشقی دی نوم دده عبد الرحمٰن بن عَمرو دی. دریم رازی دی چی یو دحفاظو څخه ددنیا دی، نوم دده عبید الله بن عبد الکریم دی، حافظ ابنِ کثیر ؒ (په البدایة والنهایة ج ۱۱ ص ۳۷ کی) لیکلی دی چی کله به دده ملاقات وسو دامامِ احمد بن حنبل ؒ سره، نوامامِ احمد ؒ به یوازی فرآئض کول اودده دمذاکرې دپاره به یې مندوبات پرېښوول، اودی دامامِ احمد ؒ تروفات شل کاله وروسته په دوه سوه یوشپیته ۲۶۱ هجری کی وفات سوی دی.

**فائده**: محمدبن بشار ؒ فرمایی چی حفاظ ددنیا څلوردی ۱. ابو زرعه دی په ریّ کی ۲. محمدبن اسماعیل دی په بخارا کې ۳. مسلم بن حجاج دی په نیشاپور کې ۴. عبد الله بن عبد الرحمٰن دارمی دی په سمرقند کی. انتهٰی

او څلورم ابوزرعه شیبانی دی، نوم دده یحیٰی بن ابی عُمردی، اوپنځم هغه ابو زرعه دی چی روایت کوی دابو ادریس خولانی څخه په ترمذی شریف کی دا ابو زرعه یا هغه بجلی کوفی دی اویا مجهول دی. او ابو هریرة رضی الله عنه عریف اونمآئنده داصحابِ صفه دی، نمآئنده زموږ دطالبانودی، ګردان اواستحضار دحدیثو به یې کوی په اول ثلث دشپې کی.

۷. **اووم مبحث** دی په تشریح دمتن کی: حبیبتان فعیل دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



پــه معنــی دمفعــول ســره اوتــآء پکــښې راغلــی ده دوجــی دالحاق څخه دهغه فعیل سره چی په معنی دفاعل سره وی لکه په ان رحمة الله قریبٌ من المحسنین کي بالکل راغلې ده. پـه یـوه توجیـه کـي مـشهوره داده چـی چـی کلمتـان خبـر مقـدم دي اوپــه مابعـدکی ددې صــفات دی، اوسـبحان الله وبحمده سبحان الله العظیم دوې جملې دی. حرفِ عـاطف پکښی محذوف دی، اومنصوب دی په اعرابِ حکائی سره اوپه تاویـل دلفظ سره مبتدا واقـع سوی دی. اوکمـال ابـن الهمامؒ فرمایي چی کلمتان سره دصفاتو مبتدا ده اومابعد یې خبردی....اودغه توجیه مناسبه ده دذوقِ سلیم سره.

۸. **اتم مبحث** دې پـه مناسبت دحدیث کـی دترجمـة البـاب سـره، پــه دې حـدیث کــی ذکـر دمیـزان راغلــی دی عبـارةً، اوذکـر دوزن داقوالـو راغلـي دی، دارنګـه دافعـالو راغلـی دی دلالةً.

۹. **نهم مبحث** دی په بیان داحکـام مـستنبطه وو کـښې، ددې حدیث شـریف څخـه دا معلومـه سوه چی وزن اومیـزان حق دی اودا معلومه سوه چی مسجع کلام منکرنـه دی، اومنکـر هغه مسجع دعـا یابل شی دی چی پـه تکلُّف سره وی اودا معلومـه سـوه چـی تـسبیح مهـم دی پـه نـسبت سـره حمدتـه، ځکه چی دحمد متعلق کـه څه هم چی تملأ المیـزان  رواه مسلم  وارد دی لیکن تسبیح یې مکـرر راوړه اومقدم یې کړله اوپه جنت کي جنتیـان بـه تـسبیح اول وایـی اوحمـد پـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته وایی، قال الله تعالی: دعواهم فیها سبحانك الله وتحیتهم فیها سلام وآخر دعواهم ان الحمد لله رب العالمین. اودا معلومه سوه چی سلب درذآئلو مهم دی په نسبت سره کسب دفضآئلو ته، لکه بزګر چی اول کښت دوښو څخه صفا کي اوبیا وروسته وریکښی تُخم وکری، اوبعضی تخم مخکی وکری او وروسته بیا په ګوډ سره وابنه لیری کوی. دغه ډول اهلِ تزکیه اول سالك دضررناکو نسبتونو څخه پاك کی، بیا وروسته نسبت مع الله پکښی شین کوی، اوبعضی اهلِ تزکیه پرهیز اودوائی برغ چلوی.

**فآئده**: الله تعالی دهر نقصان څخه بالفعل پاك دی اوپه هر کمال سره بالفعل متصف دی چی څوك دالله تعالی حمد تسبیح یابل شی وایی نو په دې سره الله تعالی ته څه نفع نه رسیږی، بلکه ددې اثر انعکاسی دی. نفع ددې صرف بنده ته راجع ده. نوچی څوك تسبیح دالله تعالی وایی نو سلب درذآئلو به ددې بنده څخه کیږی اوچی څوك یې حمد وایی نوفضآئل به په دې بنده کی حاصلیږی.

۱۰. **لسم مبحث** دی په بیان دبراعة اختتام کی.

دامام بخاری؆ په دې کتاب کی داعادت دی چی په آخری باب اوحدیث کی معنی دقطع اودموت ته اشاره کوی، نو امام بخاری؆ په اثبات دوزن اودمیزان سره موت ته اشاره وکړله، ځکه چی دا داحوالو دمابعد دموت څخه دی او دارنګه موت دعالم ته یې اشاره وکړله ځکه چی دا وزن او

(c) ketabton.com: The Digital Library



وضع دمیزان به په قیامت کی کیږی. اودارنګه سبحان الله وبحمده مساوی دی دلااله الا الله سره. په دواړو کی نفی داثبات راغلی ده. اوپه حدیث شریف کي وارد دي: من کان آخر کلامه لااله الا الله دخل الجنة (رواه ابوداؤد وغیره).

داتتمه ده ددې مباحثو، په دې کی نصآئح ذکر کیږی، نصآئح ډیر دی لیکن په دې تتمه کی په لسو نصآئحو سره اکتفآء کول کیږی.

۱. **اول نصیحت** دادی چی موږ صحیح اوپُخته علم حاصل کو، دماهرو اساتذه وو درس ته حاضری کوو، اوداکابرو شروح، حواشي، امالي په غور سره مطالعه کوو، اوتکرار اواستحضار او مذاکره داهلِ علمو سره معمول وګرځوو، اودمعاصی څخه اوداضاعت دوخت څخه ځان وساتو، اوپه اذکارو کی اوپه تبلیغ کی دانهماك څخه پرهیز کوو.

۲. **دوهم** دادی چی موږ اِخلاص او للهیت حاصل کو، په وحی کي داخلاص او للهیت متعلق ترغیبات، اود ریآء او دسمعت متعلق وعیدات مستحضر ساتو، اوداهل الله صحبت ته حاضریږو او ددوی مواعظ وغیره مطالعه کوو.

۳. **دریم** دادي چی په خپل علم باندی عمل کوو، دا التزام وکو چی کم په آیت او حدیث باندی موچی علم راغی نو دهغه څخه به وربانـدی عمل شروع کوو، چی کم آیت یا حدیث منسوخ وی نوپه هغه بانـدی دعمل طریقه داده چی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا اعتقاد وساتو چي داوحي ده اوپه وحي سره په دې باندې عمل منع سوی دی. څوك چي په خپل باندې عمل نه کوی نو په قرآنِ مجيد کي يې د ده مثال دهغه حمار ګرځولی دی چي دکتابونو بار ورباندی پروت وی، اوپيغمبر ﷺ دهغه علم څخه چي نفع نه سي پراخيستل کيدی پناه غوښتي ده (رواه مسلم).

**فآئده**: علم اوعمل دواړه ضروری اموردی، علم بې له عمله مذموم دی، اوعمل بې له علمه څخه اطمينان نه بخښونکی دی، البته امامِ بخاریؒ په کتاب العلم کی دې لطيفې ته اشاره کړيده چي علم بلاعمله افضل دی تر عمل بلا علمه.

۴. **څلورم** دادی چي دعلمِ دين اشاعت به کوو، په تدريس سره، افتآء سره، تصنيف سره، تذکير سره، مدرسو جوړولو سره، او سرکاری مدرسو اوکالجونو کي داسلاميا تو په ډيرولو سره، اوددينی رسآئلو په جاری کولو سره.

۵. **پنځم** دادی چي لکه څنګه چي دجهاد دپاره مال موقوف عليه دی، ددې وجې الله تعالی جهاد بالاموال ترجهاد بالانفس مخکي ذکر کوی، دارنګه داشاعت دعلم دپاره مال ضروری دی، چي چاته الله تعالی ذريعه دمعاش نه وی ورکړی نوهغه دې داسې ذريعه دمعاش تلاش کی چي خالص دينی مشغله وی، اوکه داسې ذريعه نه پيدا کيږی، نوبيا دی داسې مشغله تلاش کی چي نيمه دينی وی، او

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې خالص دنیوي وي ددین دخدمت پکښې توقع نه وي نو ماامکن به ځان ورڅخه ساتي. اودهر قسم دیني خدمت کوونکي دپاره مناسب دي چې کم ازکم دیوه کامل ذخیره دځان سره ساتي، که یوظالم متولي یابل څوك يې معزوله کي نودی به پریشانه نه وي.

۶. **شپږم** دادی چې داسلام څخه مدافعت به کوو، په هره زمانه کې زنادقه اومنافقان موجود وي اودوی موقع په موقع پراسلام اوپر علماوو اعتراضات کوي اوعوام مسلمانان پر اسلام اوپرعلماوو بد ګمانه کوي، نوپر موږ باندې ضروري دی چې ددې دښمنانو خیالات او اعتراضات به معلوموو، اوبیا به دوی ته په تقریر اوپه تحریر سره مسکت جوابونه ورکوو اوددې دور دمناظرو څخه به ځان ساتو، په دې کې نه اظهار دحق کیږي اونه اظهار دحق مقصود وي، بلکه عداوت اومقاتلت ورڅخه پیداسي.

۷. **اووم** نصحیت دادی چې موږ به منظم اوسیږو، امیر، ناظم، خزانه چې به مقرر کوو. په مناسب وخت کې به اجتماع هم کوو، ددې ډیر اثروي. حکومت اوددین دښمنان اوعوام ورڅخه متاثره کیږي.

۸. **اتم** نصیحت دادی چې په سیاست کې به خامخا حصه اخلو. دابه نه کوو چې دمشرۍ څخه خپله لیرې سو اویو نا اهل پورته کو، دجمیعت علمآء اسلام تر اصولو لاندې به

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوند تیروو.
ددې اصــولو خلاصــه داده چــی اول دا معلومــه کــو چــی داســلامي نظــام او داســلامي اقتــدار پــه راتلــوکي څــوك رکــاوټ (خنـــډ) اچــوی، اوددوي آلات اووســآئل څــه دی، بالفرض که دوي پـه اقتـدار، کارخانو، اموالو، وعـدو سره عـوام متـاثره کـوی اودحق څخـه یـې متنفـر کـوی، نـوددې دغیـر مـؤثر کیـدو جـآئز انتظـام وکـو،اوددې رکـاوټ پیـدا کوونکـو ترســایې لانـدی دکښېنـستو څخــه ځــان وســاتو، تـردې سـایې لاندی صرف دلفظی خدمت ددیـن امیـد وی، البته که دحقیقی خدمت ظن غالب وی نو قابلِ اعتـراض نـه دی.

۹. **نهم** نصیحت دادی چی کله چـی عـوام زمـوږ سره تعـاون کـوی، چنـده او ووټ دوی راکـوی، جلـسه اوجلـوس زمـوږ دوی کامیابه کوی، نوپر دوی باندی شـفقت بـه کـوو، دکفـر اودشرك اونورو سختو فتاواوو څخه، اودتعزیری احکـامو څخه به یې باقاعـده سـاتو، ددوی تـدریجًا اصـلاح بـه کـوو، اول داعتقـاداتو، بیـا دفرآئـضو اودواجبـاتو، وهٰکـذا. اوپـه داسـی لهجـه کـی بـه ورسره مخاطبـه کـوو لکـه چـی دپـلار، ورور، زوی سره پـه کمه لهجه کي مخاطبـه کـوو. اوکـه مـوږ داول وار څخه پـه فروعـی اختلافاتو کی ورګډ سو نـو دپـنځ پیری اودوهابی حکم به راباندی وسی اوژبه به راڅخه پـرې سي اوپه عواموکي به بې اعتمـاده سو، داتـو کـالو خـواری

(c) ketabton.com: The Digital Library



به مو عبث ولاړه سی اوعوام به وایی چی ددوی استاذان هم وهابیان او پنج پیریان دی.

۱۰. **لسم** نصیحت دادي چی موږ به داساتذه وو اومدرسې سره رابطه ساتو، آمد اورفت به کوو، خط به رالیږو، چی موږ فارغ سو نوکم از کم خپل یونمآئنده به رالیږو. سُبْحَانَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُونَ ﴿﴾ وَسَلَامٌ عَلَى الْمُرْسَلِينَ ﴿﴾ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿﴾.

## تتمّه :

په ددې تتمه کی مسئله دتقلید ذکر کیږی.

**پوه سه** چی تقلید دې ته ویل کیږی چی یوشخص التزام وکی درایی دغیر، اواعتقاد ولری دحقانیت درایی دغیر بې له علمه څخه په دلیل دهغه باندی. داتقلید پردوه قسمه دی، یوشرکی دی، بل شرعی دی.

۱. که رایه ددې غیر، معارضه وی دوحی سره، نومتابعت دده تقلید شرکی دی اومنکر دی. الله تعالی فرمایی: وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ اتَّبِعُوا مَا أَنْزَلَ اللهُ قَالُوا بَلْ نَتَّبِعُ مَا أَلْفَيْنَا عَلَيْهِ آبَاءَنَا أَوَلَوْ كَانَ آبَاؤُهُمْ لاَ يَعْقِلُونَ شَيْئًا وَّلاَ يَهْتَدُونَ (البقرة) الله تعالی انکار وکی پرمتابعت درایی دهغه چا چی نه ورسره عقل اوفهم وی او نه ورسره هدایت اووحی وی، بلکه رایه دده معارضه دوحی سره وی، او الله تعالی فرمایی: اتخذوا احبارهم ورهبانهم ارباباً من دون الله (برآءة) په حدیث دترمذی

(c) ketabton.com: The Digital Library



شریف کی تصریح ده چی یهود اونصارٰی به دخپلو مذهبی پیشوایانو شرکی تقلید کوی چی دوی یې مالکان دحل اودحرمت گڼل اوددوی متابعت به یې کوی، که څه هم چی رایه به ددوی معارضه وه دوحی سره. ۲. اوکه رایه ددې غیر، مستنبطه وی دوحی څخه، نومتابعت دده تقلید شرعی دی اوجآئز دی. ۱. الله تعالی فرمایی: فاسئلوا اهل الذکرِ ان کنتم لا تعلمون (النحل) دا آیت دې ته هم شامل دی چی په هره مسئله کی صرف دیوه اهل څخه سوال کوی او دهغه متابعت کوی، دایې لازم نه دی گرځولی چی په نوی مسئله کی دنوی اهلِ علم متابعت وکی، ۲. او الله تعالی فرمایی: وَلَوْ رَدُّوهُ إِلَى الرَّسُولِ وَإِلَىٰ أُولِي الْأَمْرِ مِنْهُمْ لَعَلِمَهُ الَّذِينَ يَسْتَنْبِطُونَهُ مِنْهُمْ (النسآء) په دې آیت کی دې ته اشاره ده چی څوك دیوه کار په نفع اوضرر، حل اوحرمت نه پوهیږی، نو په دې کی به داولی الامر اوداهلِ رایی متابعت کوی. ۳. او پیغمبر ﷺ فرمایی: اصحابی کالنجوم بایهم اقتدیتم اهتدیتم (بیهقی، وقال البیهقی حدیث مسلم یؤدی بعض معناه، وقال ابن حجرؒ صدق البیهقی، مرقاة ج ۱۱ ص ۴۸. په دې حدیث کی حکم سوی دی دمتابعت دصحابه وو رضي الله عنهم ، اوداحدیث دی ته هم شامل دی چی په هره مسئله کی صرف دصحابی متابعت وکړل سی. ۴.اواهلِ مدینه وو به تقلید دزید بن ثابت رضي الله عنه کوی، لکه په بخاری شریف کی روایت دی چی اهلِ مدینه وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوال وکی دابن عباس رضي الله عنهما څخه، چې يوه زنانه وروسته ترطواف زيات حآئضه سي نودابه انتظار کوی اوکه وطن ته به ځي ؟ نوابن عباس رضي الله عنهما وفرمايل چې دابه وطن ته ځي، طوافِ وداع به پريږدی نواهلِ مدينه وو ورته وفرمايل: لاناخذ بقولك وندع قول زيدبن ثابت (باب اذا حاضت المراة بعد ما افاضت).

**۵**. اوتقليد شخصي په خير القرون کې موجود وو بې له نکير څخه، دائمه اربعه وو ددوی په زندګۍ کې تقليد کيدی، نودامنکر نسی ګرځيدی. **۶**. اوپرتقليدِ شخصی باندی تعامل راغلی دی سلفًا وخلفًا، نودابه حسن وی، لحديث ماراٰه المسلمون فهو عند الله حسنٌ، رواه المحدثون موقوفًا علی ابن مسعود رضي الله عنه، وجعله الامام محمد مرفوعًا في بلاغاته. ۷. اوپيغمبر ﷺ فرمايي: اتبعوا السّواد الاعظم (رواه ابن ماجة) او سواد اعظم دخواص دامت لکه محدثين، مفسرين، فقهآء، شارحين داحاديثو، مصلحين، مقلدين وه په تقليدِ شخصي سره. ۸. اوحضرتِ عثمان رضي الله عنه جمع دقرآن وکړله دپاره دشفقت پرعوامو باندی اودپاره ددفع دتحيّر دعوامو څخه، او دپاره دخلاصولو ددوی دتکذيب څخه ديوه اوبل، اودا مصالح په تقليدِ شخصی کی هم موجود دی. چې کله په قرآن اوحديث کې ديوه لفظ دوې معاني وی، يايو آيت او حديث دبل آيت اوحديث سره په ظاهره معارض وی، يايو

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکم پـه عبـاراتو دقـرآن اودحدیثوکی نـه وی، نودیـوه امـام پـه تقلیـد سـره بـه دتحیّـر اودتکـذیب څخـه وسـاتل سـی، اوخصوصًا چی داعقیده لری چی څلور سره امامان پرحق دی. ۹. اواتبـاع دهـوٰی، اوتلاعـب بالـدین حـرام وی اوچـی څوك تقلیدِ شخصي کوی نوددې محرماتو څخـه بـه وسـاتل سی. ۱۰. اوپه کم کارچی مصالح عامـه موجـود وی نـو الله تعالیٰ هغه نه حراموی، اوپـه تقلیـدِ شخصـی کـی داامامـانو سره دبُغض کولو څخه ساتل اوددوی سره روا داری کیـدل، اوزنادقـه ووتـه متحـد کیـدل اودیوبـل سـره همـدردی کـول اونور مصالح موجود دی.

**پوه سه** چی ۱. دبعضو نـاواقفو خلګوپـه دمـاغوکی داخیال پیدا کیږی چی اهلِ حدیث په قال الله اوقال الرسول باندی عمـل کـوی اومقلـدین پـه قـال ابوحنیفـة اوقـال الـشافعی باندی عمل کوی، ولیکن داخیال غلط دی. هرامام تصریح کړیده چی حجت قرآن اوحدیث دی اودقرآن او دحدیث پـه مقابلـه کـی درایـی داخیـستلو شـدید ردیـې کړیـدی، دا امامان دوحی دعبارت، اشارت، دلالت، اقتضآء او اعتبار شـارحین دی، شـارعین نـه دی. دوی زمـوږ اسـاتذه دی، ارباب نه دی، دوی دمشترك او دمجمل مراد ښکاره کوی، دوی تعارض دفع کوی اوچی کم حکم پـه وحـی کـی ښکاره موجود نـه وی نـودوحی څخـه دهغـه استنباط کـوی، اودې امورو ته اهلِ حدیث هم محتـاج دی. ۲. اودبعضو نـاواقفو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلکو په دماغو کې دا خیال پیدا کیږي چې اهلِ حدیث په احادیثو عمل کوي او امام ابوحنیفه رحمة الله علیه په رایې سره حدیث پریږدي، لیکن دا پر امامانو افترآء ده، امام ابو حنیفه رحمة الله علیه حدیث دحدیث دوجې پریږدي نه درایې دوجې څخه، مناسب دادې چې دا قآئل یومثال پیش کې چې په هغه کې امام ابوحنیفة رحمة الله علیه درایې دوجې څخه حدیث پریښې وي. ۳. اودبعضو ناواقفو خلکو په دماغو کې دا خیال پیدا کیږي چې داامامِ ابوحنیفه رحمة الله علیه احادیث په بخاري اومسلم کې نه وي اوداهلِ حدیثو احادیث په مسلم اوبخاري کې وي چې هغه اصح الکتب دي، اوبیا بخاري شریف اصح الکتب بعد کتاب الله دي، لیکن دا داصولو څخه خلاف خیال دی ځکه چې حجت دحدیث ثابت دی نه یوازې دبخاري شریف، مونږ اهلِ حدیث یو نه اهلِ بخاري، بل داچې بیشکه امام بخاري رحمة الله علیه لوی امام، امیر المؤمنین في الحدیث دی اوصحیح بخاري اصح الکتب بعد کتاب الله دی لیکن داخبره نه په قرآن کې سته اونه په حدیث کې سته اونه په خیر القرون کې چا ویلې ده بلکه دشر القرون بعضې امامانو ویلې ده، نوداهلِ حدیث څخه تعجب دی چې په دې مقوله باندې اعتماد کوي، دااهلِ حدیث سره نه ښایي، دازمونږ مقلدینو سره ښایي. بله داده چې یوحدیث اصح سو نوددې څخه دانه لازمیږي چې دی نسې منسوخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کیدی، چې دقرآن آیت منسوخ کیدی سی نوصحیح حدیث به څه رنګه منسوخ نسی، بله داده چې وجوهات دترجیح ډیردی که یوحدیث سنداً قوی وی اومعارض وی دهغه حدیث سره چې په سندکي ترده لاندي وی لیکن محرّم وی اومحرِّم ته به ترجیح ورکول کیږی، ۴. اودبعضو خلګو په دماغوکی دا اعتراض پیدا کیږی چې کله تقلید جائزدی نوبیا تقلید دخلفآء راشدینو رضي الله عنهم ولی نه کول کیږی، ددې اعتراض څخه اول جواب دادی چې تقلید په اصطلاح کی هغه اقتدآء اومتابعت ته ویل کیږی چې بې له علمه وی په دلیل دمقتدٰی اودمتبوع باندی ددې وجې څخه په اصطلاح کی صحابه وو رضي الله عنهم ته مقلدین دپیغمبر ﷺ نسي ویل کیدی ځکه پرقول اوفعل دپیغمبر ﷺ باندی علم داعلم دی پردلیل باندی، اودارنګه تابعینوته مقلدین دصحابه وو نسي ویل کیدی چې قول اوفعل دصحابه وو رضي الله عنهم هم دلیل دی في الجملةو اوددې اعتراض څخه دوهم جواب دادی چې په اصطلاح کی صاحب دمذهب هغه امام ته ویل کیږی چې دهغه څخه دژوند دهری شعبې په متعلق یوه رایه مروی وی، اودخلفآء راشدینو رضي الله عنهم علم ته دچاعلم نه رسیږی لیکن ددوی څخه موږته لږ روایات رارسیدلی دي نودوی دصاحبانو دمذهب مقتدی اوامامان دی.

(**فائده**) عوام پرهغه فرقه بدګمانه وی چې دخپلی رایې په

وظآئفو اوپه مراعاتو اوپه سیایی طرز اوتحریك سره اشاعت کوی، لکه دنمونې دپاره څلور اعتراضات ذکر کړل سوه.

**وما علینا الا البلاغ، ولاحول ولاقوة الا بالله العلی العظیم وصلی الله تعالی علی سیدنا خیر خلقه محمدٍ وعلی آله واصحابه واتباعه اجمعین.**

تمّ بحمد الله

**ترتیب جدید:**
مولوی حافظ محمّد احمد حقّانی غفرالله له
تلمیذ المؤلِف فی الاحادیث والتصوّف

**کتابت:**
**العلم کمپیوټرز** ، کوئټه . پاکستان
فون: ۰۳۲۱۸۰۱۲۳۷۱

**ناشر:**
سعیدی کتب خانه ، ختمِ نبوّت چورنګی، سټلایټ ټاؤن، کوئټه . پاکستان. فون: ۰۳۰۱۳۷۹۲۰۰۸

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**